# بدل شوی سړی

## لنډې کیسې

## صدیق الله بدر

WWW.SAMSOOR.COM
Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# کېس

نبي ګل؛ چې له لرې ولیدم، په منډه یې تر ما ځان راورساوه او په سوې ساه یې وویل: ((دوسته! څنګه شوه؟))

- څه شی؟

- وئ هغه د کېس خبره.

ما ویل، چې وبه یې ځوروم، هېڅ مې ونه ویل، هغه مې له لاسه ونیو او د هغه د کور پر خوا وخوځېدو. د چای څښلو پر وخت نبي ګل بیا خوله خبرې ته جوړه کړه: ((دوسته! ودې نه ویل، چې . . . ))

ما خبره په نیمه کې ورغوڅه کړه: ((چې څه مې ونه ویل؟))

- هغه د کېس خبره دې؟

- د کوم کېس؟

ketabton.com - The Digital Library



نبي ګل د چایو پیاله پر سر واړوله او ویې ویل: ((ګوره ! مه مې ځوروه، که دې کار کړی وي، بیګاه یوه ښه میلمستیا درکوم.))
ما ستر ګې پرې وربر ګې کړې: ((که مې نه وي کړی، شړې خو به مې نه؟))
نبي ګل لږ چورتي غوندې شو، په نیولي انداز یې وویل: ((لکه چې نن هم کار ونه شو، خیر زما د بخت مرغه له ازله په وزر ټپي دی، نور مه پسې ګرځه، ډیر مې سرګردانه کړې . . .))
نبي ګل لاهغسې له ځانه سره بونګېده، ما یوه پاڼه له جیبه راویستله او ورو ورو مې ولوستله: ((د کابل د کمربند ټولو امنیتي پوستو ته ! د راغلو اطلاعاتو له مخې یو تن د نبي ګل په نامه، چې پلار یې سید ګل نومیږي، زموږ سر سخت مخالف دی. زموږ په ضد تبلیغات کوي، بناء ټولو امنیتي ځایونو او پوستو ته خبر ورکوو، که دغه سړی مو ونیو عاجل یې ګرفتار او زموږ په پته یې راواستوئ.))
نبي ګل یو دم راټوپ کړ. په هوا کې یې کاغذ رانه واخیست او د سپین ږیرو په شان یې دعاګانې راته وکړې: ((کور دې ودان، خدای دې عزت درکړي، خدای دې خوشاله لره.))
له دې سره په خیزکو، ترپکو شو او ځان یې ښه ستړی کړ. ما پرې غږ وکړ: ((نبي ګله ! زه درنه ځم.))

ketabton.com - The Digital Library



نبي ګل مخامخ راته کېناست او په موسکو شونډو یې وویل: (( ځې !؟ والله که قدم رانه واخلې، بیګاه به سره ښه میله جوړوو، نور یاران هم راغواړو .))

ما نه منله؛ خو ډیر راته ټینګ شو، مازیګر مهال له هغه سره ګډ خپل کور ته لاړم. کور کې مې وویل، چې د شپې نه راځم. چې له کوره راووتو، نبي ګل وویل: ((دوسته ! ودې نه ویل، چې دا کاغذ دې څنګه واخیست؟))

ـ تا غوندې یو دوست لرم، بلا سړی دی، له ډیرو سرکاري خلکو او قوماندانانو سره پیژني، ورغلم. هغه ته مې وویل. هغه را سره د قوماندان قرارګاه ته لاړ. ښه شو، چې په وخت ورغلو که نه نیم ساعت وروسته به مو هندوستان کې غوښت.

نبي ګل په تادۍ وویل: ((هغه څنګه؟))

ـ هغه داسې، چې قوماندان د علاج لپاره هند ته روان و او ویل یې، چې کیدای شي میاشت دوه هلته پاتې شي. همدا درې په درې سره ناست و، دا کاغذ زما دوست ولیکه او قوماندان خپله ټاپه پرې ولګوله.

تیر ماښام زموږ دوه دوستان، چې مازیګر مو ورته خبر ورکړی و، راغلل، شپه مو په خوشالۍ سره سبا کړه. سهار، چې له نبي ګل نه رخصتیدو، ورته مې وویل: ((پروګرام دې څنګه دی؟))

ketabton.com - The Digital Library



ـ بس، نن یو څه کارونه پاتې دي، هغه خلاصوم، سبا سهار د وختـه روانیږم. پېښور کې به مې کار جوړ کړم، چې اصلي ځای ته ورسیدم، لیک به در ولېږم.

څه کم دوې میاشتې ورسته، یوه ورځ، چې دفتر ته ننوتم، ساتونکي راتـه وویـل: ((پـرون، چې کلـه تاسې کـور تـه لاړئ، یـو سړی راغـی، ستاسې پوښتنه یې کوله، ویل یې، چې تا ته یې کوم خط راوړی.))

ما په بیړه ترې وپوښتل: ((خط یې راوړی و، د چا خط؟))

ساتونکي وویل: ((ویل یې، چې د نبي ګل خط دی.))

ـ خط یې درنه کړ؟

ـ نه، خو ویل یې، چې نن په لسو بجو بیا راځي.

زه خپلې شعبې ته لاړم، هره شېبه مې خپل ساعت ته کتل. لس، یوولس شوې، خو سړی رامعلوم نه شو. له شعبې ووتم او نیغ د ساتونکي پـر خوا ورغلم. ساتونکي، چې زه ولیدم زما خواته یې لاس اوږد کړ او هغه سړي ته یې، چې مخامخ ورسره ولاړ و، وویل: ((هغه دی، سبحان خان په خپله راغی.))

سړی زما په لوري روا خوځید. شعبې ته مې بوته. له کیناستو سره سم یې وویل: ((ستا کور مې ډیر ولټاوه، پیدا مې نه کړ. دوې ورځې ها خوا دیخوا وګرځیدم. دا ځای مې هم په ډیرو پوښتنو پیدا کړ.))

له دې خبرو سره سړي له خپله جیبه یو بې پاکټه لیک راویست: ((دا خط نبي ګل راکړی.))

ketabton.com - The Digital Library



لیک مې تر ې واخیست، خو دې ته حیران وم، چې خلک له خارجه څنګه بې پاکټه خط رالیږي.
چې لیک مې پرانیست، سړی مې وپوښت: ((کېږي یې قبول شوی که نه؟))
داسې یې راته وکتل، لکه چې زما په خبره نه وي پوه شوی. بیا مې پوښتنه وکړه: ((تاسې په خارج کې سره یو ځای اوسیږئ؟))
هغه بې له ځنډه وویل: ((نه ورو ره ! کوم خارج کې.))
له خپلې پوښتنې پښېمانه شوم، رښتیا د هغه رنګ خارج تللیو ته نه و ورته. ومې ویل: نو...
هغه راغبرګه کړه: (( همدلته ورسره ګډ اوسیدم، په یوه کوټه کې.))
ما ورته وویل: ((دلته څنګه، هغه لا دوه میاشتې مخکې تللی.))
سړی ډیر ستړی ښکاریده، مخامخ یې راته وکتل: ((خط ولوله، هر څه به درمعلوم شي.))
لیک مې ورو ورو له ځانه سره ولوست:
((ګرانه سبحان خانه ! سلامونه!
دا مې څلورم لیک دی، چې درلیږم یې یا خو نه در رسیږي او یا بې غوره شوی یې. په هغه سهار، چې ما حرکت وکړ، د پلچرخي د تلاشۍ په پوسته کې یې له موټره راکښته کړو. خلک یې جیب په جیب لټول، ما له ویرې هغه کاغذ له جیبه راوویست او په موټي کې مې ونیو. دې

ketabton.com - The Digital Library



شپبه کې یو سپاهي راباندې غږ وکړ: ((لاس دې رادېخوا کړه، څه دې پټ کړل.))
زه وارخطا شوم، ژبه مې بنده بنده شوه او خولې راباندې ماتې شوې، هغه زما له موټي کاغذ واخست، بپه شپبه یې له ځانه سره ولوست، بیا یې زه ټینګ له مټه ونیولم او خپل قوماندان ته یې وروستلم، قوماندان ته یې وویل: ((صاحب! دښمن مې نیولی. هه دا خط ولوله.))
هغوی تر مازیګره هلته وساتلم، یو څه وهل یې هم راکړل، بیا یې د هماغه قوماندان بندیخانې ته راوستلم، چې کاغذ یې درته لیکلی و.
دوی هم څو ورځې سر په سر په مړه خېټه ووهلم.
دا دی دوې میاشتې کېږي، چې په بندیخانه کې پروت یم، زه که هر څه وایم نه یې مني. د قوماندان راتګ ته انتظار دي. دوسته! د خدای په پار هر څنګه، چې کېږي زما غم وخوره، که نه...))
۱۳۷۵

ketabton.com - The Digital Library



# البوم

صابر د جلال اباد په اډه کې سورلۍ ښکته کړه، نېغ یې د دربېیم مکروریان لاره خپله کړه. څه ټوټه لاره یې لا نه وه وهلې، چې موټر یې ببرته د ښار په لوري وګرځاوه او له ځانه سره یې وویل: (( یوه جمعه وروسته کور ته ځې، هغه هم خالي لاس ! ))

ویې خندل او بیا یې پر اکسلېټر پښه ټینګه کړه. په فروشګاه کې له موټره راښکته شو او له لنډ سوچ وروسته یې یو من ببروتي منې واخیستې، غوښتل یې موټر ته پورته شي، چې یو نری اواز یې تر غوږ شو. شاته یې وکتل. یو ګلالی ماشوم، چې د مور لاس یې په لاس کې نیولی و، د ده د منو پلاستیک ته یې اشاره وکړه او خپل پلار ته یې وویل: (( ماته هغسې سرې منې واخله، هغه کاکا، چې اخیستي. ))

د پلار په لاس کې یې د ارزانو شنو منو کڅوړه وه.

ketabton.com - The Digital Library



صابر موسک شو ، يوه غټه منه يې له کڅوړې راواخيسته او هلک ته يې ورکړه. ښه شېبه يې په تګ تګ کې ماشوم وکتل، بيا موټر ته وخوت او د مکروريانو پر لار سېخ شو.
په نيمه لار کې بيا له ځان سره لګيا شو: (( دا ځل شکريې ته وايم، چې نور بس دی، دوه درې کاله وشول؛ سړی واده د اولاد لپاره کوي، اخ، چې اوس زموږ هم ماشوم وای، هغه مو له ځان سره ښار ته راوستی او هرڅه يې، چې غوښتل، هغه مو ورته اخيستی. ))
صابر په سوچ کې لاړ: (( نور بس دی، شکريه مجبوروم، چې زما خبره ومني. د ماشوم خندا و ژړا ، چې په کې نه وي، هغه به څه کور وي...که يې ونه مني؟ ))
يو سوړ اسويلی يې وکېښ: ((هو ، که يې ونه مني؟ نه، نه ! مني يې. يوه غټه تحفه به ورته واخلم، دا ځل به مې حتما خبره مني. ))
له دې خبرې سره يې په بېړه د موټر مخ بېرته د ښار پر لوري وګرځاوه او په څو شېبو کې د سرای شهزاده په راسته کې د زرګريو د يو دکان مخې ته موټر ودراوه. دکان ته په ننوتلو يې وويل: ((اشنا ! يو ښکلی سيټ راته وګوره، چې لږ غټ وي. ))
زرګر په خندا وويل: (( يار ! څه کوې؟ ورېندار خو د سرو په سيند کې نه ډوبوې. بس دی ظالمه. هره مياشت، يو شی نه يو شی ورته اخلې. د شراکت پيسې دې هم کرار کرار راسره ختمېږي. ))

ketabton.com - The Digital Library



صابر موسک شو: (( اشنا د ښځو خو همدا ایمان دی، پرېږده چې خوشاله وي. ))
زرګر نور څه ونه ویل، په بېړه یې یو ښکلی سیټ هغه ته ورکړ: (( دا ښه شی دی، خو ډېر قیمت دی. ))
صابر وخندل، څو بنډله لسزریز نوټونه یې ورته ونیول: (( په قیمت پسې یې ګرځه مه. پاتې هغه د شراکت له پیسو وګرځوه. ))
له محمود خان پله سره یوې پنډې ښځې غټ د پلوماټ بیک په لاس، ورته لاس ونیو. ده موټر ودراوه، خو ژر یې بېرته چالان کړ. څو قدمه مخته ودرېد، بېرته لیورس د ښځې پر خوا راغی، ځان سره یې وویل: ((دا به ورسوم، یو غیران مې هم جیب کې پاتې نه شو، د سګرټو پیسې خو به راووځي. ))
له ښځې سره نږدې یې موټر ودراوه. ښځې د موټر شاتنۍ دروازه خلاصه کړه، د پلوماټ بیک یې د څوکۍ پر سر کېښود او خپله په مخکینۍ سیټ کې له صابر سره کېناسته: (( استاد جانه ! ډېره ستړې یم، زړو مکروریانو ته ځمه، د کرایې غم مه کوه. ))
صابر ورته وویل: (( ګوره ! شاته کېنه، په طالبانو مې مه ډبوه. ))
هغې د صابر په خبره غوږ ونه ګراوه. صابر زړه نا زړه موټر چالان کړ. پنډې ښځې، زړو مکروریانو ته یې نږدې صابر ته وویل: (( هئ ! ته یوه دقیقه همدلته بریک شه. ))
صابر زړه کې خوشاله شو، چې ښځه به د شا سیټ ته ځي.

ketabton.com - The Digital Library



ښځه په بیړه ښکته شوه او د سرک تر غاړې یې پر دوو پلیو روان سړیو غږ وکړ: (( هئ ! چېرې ځئ، ولې پرون ماښام رانغلئ؟ ))
سړي دې ته ورننېدې شول، ورو ورو یې ورته څه وویل او ترې روان شول. ښځه هم په تادۍ موټر ته وخته.
زړو مکروریانو ته په رسېدو سره یې، صابر ته وویل: (( هغه منځني بلاک ته ځم. ))
صابر موټر د بلاک له اولې زینې سره ودراوه. ښځه ښکته شوه او ویې ویل: (( یوه دقیقه صبر وکړه، چې پیسې درته راوړم. ))
خو ژر یې خبره بدله کړه: (( که نه ورځه ! په پیسو څه کوې. پیسه داره سړی یې. دا د سرو غټې سیټ وګوره، دا عالي منې، خو ته راته سټړی ښکارې. راځه له ما سره، پیسې به دې هلته درکړم، یو څه دمه به هم وکړې. ))
-نه، زه نه درځم، پیسې د کوم ماشوم په لاس راولېږه.
ښځې وربوز ونیو: (( د ما کره ماشوم نشته، که پیسې غواړې نو بیک مې درسره واخله او په ما پسې راشه، که نه په مخه دې ښه. ))
صابر زړه نا زړه له موټر نه ښکته شو، د پلوماټ بیک یې واخیست او په ښځې پسې روان شو. دواړه په شپږم پوړ کې یو اپارتمان ته ننوتل. له ننوتو سره صابر پښه نیولی شو. خو ښځې له لاسه په زور راکش کړ، ور یې بند کړ. صابر د پنډې په خبره په یوه نسبتاً وړه کوټه کې، چې دفتر ته ورته وه، پر کوچ کېناست.

ketabton.com - The Digital Library



شاوخوا د ېوالونو ته یې وکتل. پر د ېوالونو ګرد چاپېر بربنډ او نیمه بربنډ عکسونه لګېدلي وو، د هغو په لیدو له خپله ځایه راولاړ شو، چې ووځي. د ده له راولاړېدو سره ور خلاص شو او پنډه ښځه، چې د پنځوسو کلونو په منګ معلومېده، په لوڅ سر، ځلبلي مخ او سرو کړو شونډ کوټې ته راننوته. صابر ته یې د بېرته ناستې وویل. صابر ونه منله، خو پنډې سترګې پرې وربرګې کړې: (( کېنه ! که نه شور جوړوم. اوس، چې راغلی یې یو څه عیش خو وکړه. ))
صابر وو ېرېد، بې خوده پر کوچ کېناست او هیڅ یې هم ونه ویل. پنډې په کوټه کې د یوې الماری له منځه د عکسونو یو البوم راواخیست، د ده مخ ته یې کېښود: (( زه دې بلې کوټې ته سر ښکاره کوم، ژر بېرته راځم، ته په دوی کې یوه خوښه کړه. ))
صابر وره ته نږدې شو، چې ووځي خو ور بند و، بېرته راغی او زړه نا زړه یې البوم پرانست. د یو دوه عکسونو په کتلو سره یې هغه بېرته بند کړ: (( خدای د سپوږمۍ په شانتې ښځه راکړې، نه، نه ! دا چټې کار نه کوم، خو څه وکړم. ))
تر څه شېبې سوچ له ځان سره لګیا شو: (( همم..له پنډې سره وعده کوم، چې سبا راځم. ))
صابر په همدې سوچ کې و، چې پنډه له یو بوتل فانتا او دوو ګېلاسونو سره کوټې ته راننوته: (( خوښه دې کړه؟ ته راښکاره کړه، چې ذوق دې وګورم. ))

ketabton.com - The Digital Library



ـ ما کله هم دا کارونه نه دي کړي، اخر زه ولې دا کار وکړم، زه ښځه لرم، د سپوږمۍ په شانتې ښځه.
پنډې وربرګه شوه: (( څو یوه خوښه نه کړې، له دې کوره نه شې وتی. خامخا به یې خوښوې که نه خو پوهېږې، چې څه کوم. ))
صابر له ځان سره وویل: ((رسوایي به کوي، خلک به راخبر شي، مېرمن او خپلوان به مې خبر شي، رسوا به شم. نه، نه! ورسره منم. ))
پر کوچ کېناست، البوم یې راپرانست، په البوم کې د شپږم عکس په لیدو یو دم وربېږدېد: (( څه !؟ نه، نه ! دا نه شي کېدای... دا هغه نه ده. ))
صابر خپلې سترګې وموښلې او بیا عکس ته ځیر شو: (( نه، نه ! دا هغه نه شي کېدای...دا هغې ته ورته څوک ده... هو... هو هغې ته ورته... توبه توبه دا څه بد فکر مې وکړ، خدایه ته مې وبښې. دا هغه نه شي کېدای. ))
پنډې پرې غږ وکړ: (( ته راکړه، دا څوک دې خوښه کړه، چې خولې یې دربانديې ماتې کړې. ))
البوم یې له صابر نه واخیست او ورغبرګه یې کړه: (( اوهو ! قیامتې مال دې خوښ کړی، خود به خولې دربانديې ماتېږي، دا ښځه نه ښاپیرۍ ده، ټول په همدې پسې مړه مړه دي. ته هم همدا غواړې؟ ))
صابر په هماغه چرتې حالت کې ځواب ورکړ: (( هو ! همدا غواړم، همدا شېبه، هغه د سرو زرو سیټ هم ورته ورکوم. ))
پنډه موسکۍ شوه: (( هغه خو اوس نشته، تر غرمې د مخه تللې. دا به څنګه شي هغه هره هفته دوه درې ورځې رخصتي کوي، خو څه خیر ته

ketabton.com - The Digital Library



بل سبا راشه ! مګر ګوره، چې ډک جېب راشې، د دې مرغۍ نرخ تر نورو لس چنده اوچت دی، ومې ویل که نه قیامتي ده.))
صابر په منډه له اپارتمان نه ووت. په لاره کې له ځان سره په ګډو وډو سر شو: ((نه، زما شکریه داسې نه شي کېدای. هغه مې په مئینتوب کړې ده، ټوله دنیا مې ترې ځار کړې، هغه هم راسره مینه لري، ما د هغې په خاطر د واده په اوله هفته پلار او مور پرېښودل او د هغې په خوښه مې په دربېیم مکروریانو کې ورته کور واخیست. نه، نه ! هغه دا نه شي کېدای. هغه بل څوک ده.))
صابر په همدې فکرونو کې کور ته ورسېد. د زنګ تڼۍ یې کېکاږله. مېرمن یې په خوب وړو سترګو ور پرانست. تر سترې مشي وروسته صابر نېغ د خوب کوټې ته لاړ، له لنډ سوچ وروسته یې په ډېره مینه د شکریې له ملا نه لاسونه تاو کړل: پوهېږې ما درته سیټ...))
خو شکریې یې خبره غوڅه کړه او لاسونه یې له خپلې ملا ایسته کړل: ((اوس خمله، زه لږه ستړې یم، ته هم ستړی ښکارې. بیا یوه اوونۍ کور کې اوسه چېرې مه ځه.))
تر نیمې شپې پورې صابر اړخ په اړخ اوښته رااوښته او د خپلو فکرونو په جنګ کې راګېر و. سهار وختي د خسر کور ته لاړ، هلته یې له نورو جلا خپل مشر اوښي ته یې ټوله کیسه وکړه. لومړی یې اوښی پرې په غوسه شو، یوه کلکه څپېړه یې ورکړه، خو وروسته یې ورسره ومنل، چې هغه کور ته ورسره لاړ شي.

ketabton.com - The Digital Library



د شپې صابر د پښېمانۍ احساس وکړ، چې ولې یې خپل اوښی خبر کړ، که دا خبره درواغ وخېژي بیا به څه کوي؟ دی په همدې سوچونو کې و، چې شکریه یې خوا کې نږدې کېناسته او په ناز ناز یې وویل: (( پرون شپه مې هسې درسره ټوکه وکړه، ته خپل کار ته لاړ شه. دا غټ سیټ، چې دې اخیستی پیسې خو یې باید ورکړې. ))
صابر لکه، چې دا خبره یې هیڅ نه وي اورېدلې، په خندا وویل: (( شکریه جانې ! یوه هیله...؟ ))
ـ څه؟
ـ ګوره که نه ! دوه درې کاله وشول، نور بس دی. زړه مې غواړي، چې یو ماشوم ولرو. ته به هم له دې یوازېتوبه خلاصه شې.
شکریې پرې برچ وهل: (( پام ! څلور کاله به نور هم دا خبرې نه کوې، ته لکه، چې نه غواړې زه ځوانه او ښایسته پاتې شم. ))
صابر غوسې ونیو، خو هیڅ یې ونه ویل، بړستن یې په ځان راکش کړه: (( زه ویده کېږم، چې سبا د وخته بیا ځم. ))
سهار وختي له کوره ووت. په ښار کې له څو ساعته اخوا دېخوا ګرځېدو وروسته یې له خپل اوښي سره یو ځای د پنډې ښځې د کور لاره ونیوله.
پنډې ور پرانست او هغوی یې کور ته ننه ایستل: (( اوهو تاسو خو دوه یاست، پیسې مو هم دوه چنده کېږي. ))

ketabton.com - The Digital Library



له دې خبرې سره یې هغوی هماغې کوټې ته وروستل، چې تېره ورځ یې صابر کېنولی و. له ناستې سره سم یې د قیامتي شهزادګۍ صفتونه راواخیستل. د پنډې لا په صفتونو خوله خلاصه وه، چې د وره له پرانستل کېدو سره د عطرو خوشبویي کوټې ته راننوته، په هغې پسې په رنګینو جامو کې یوه ښځه راننوته. د هغې له راننوتو سره پنډې وویل: (( زموږ د نجونو ملکه راغله... ))
پنډه لا په خبرو لګیا وه، چې صابر له خپل بغل جیب نه زاړه اخبار کې نغښتې چاړه راوویسته، خو اوښې یې لاس کلک ونیو او په بل لاس یې مخ ته له پرتې کڅوړې له ځان سره راوړی بوتل راوویست. شکریه د خپل ورور او خاوند په لیدو بې سیکه پر وره تکیه شوه او سترګې یې رډې رډې راووتې. په همدې شېبه کې ورور یې په ټول قوت د بوتل سر پرانست او ټول تېزاب یې د هغې پر مخ وشیندل.

+++

له پېښې کلونه وروسته اوس هم صابر کله کله د زړو مکروریانو پر هماغه لاره تېرېږي او د سرک تر غاړې د ناستې درو بزګرې پلو ته، چې مخ او غاړه یې په تېزابو سوزېدلي او په سترګو څه نهویني، یوه نیمه روپۍ وراچوي او کله هم هسې ترې تېرېږي.

وری ۱۳۷۷

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



# بدل شوی سړی

تـر ډېرو ټلفونونـو او ټینګـار وروسـته یـو وکیـل راسـره ومنلـه، چـې د ځانګړې مرکې لپاره راډیو ته راشي.

له وعدې سره سم، یو ساعت وروسته، د پارلمان له ودانۍ نه لږ څه وړاندې له موټر نه ښکته شوم او وکیل صاحب ته مې زنګ وواهه. هغه ډېر ځنډ وروسته ځواب راکړ: (( څوک یې؟ ))

- وکیل صاحب ! زه، هغه ژورنالست یم، تاسو ویلي وو، چې لـه موټر سره درپسې درشم.

- اوهو ! دا خو مې هېر و. زه خو د یو وزیر صاحب کور ته راغلی یم.

- صاحب ! زما او ستاسو مرکه...

هغه زما خبره پرې کړه: (( پسې ګرځه مه، ځه یوه بله ورځ به درشم. ))

- صاحب ! دا ځانګړې مرکه ده.

- چې ځانګړې ده، وي دې، څه قیامت خو نه راښکته کېږي.

- نه ! صاحب ! وبښئ، ما دا نه غوښتل، چې تاسو خواشینی کړم.

ketabton.com - The Digital Library



- نو څه؟
- صاحب ! خبره دا سې ده، چې دغه مرکه باید دا نن وشي.
- چې نن ونه شي څه؟
- صاحب ! تاسو خو پوهېږئ، چې...
- د تاسو ژورنالستانو هم څومره یاد دي، زه تلفون قطع کوم، ومې ویل، چې وزیر صاحب سره ناست یم.
- صاحب...
- هلکه دا صاحب، صاحب پرېده، زه نه شم درتلی، بل څوک پیدا کړه.
- صاحب ! له ډېرو وکیل صاحبانو سره وغږېدم، خو څوک حاضر نه شول ، ویل یې، چې جلسې یې ډېرې مهمې دي او راتلی نه شي.
- نو زما یې څه!
- صاحب ! هیله کوم. خیر دی له وزیر صاحب سره تر خبرو وروسته راشئ.
- زه لکه، چې درته ښه اوزګار ښکارم، زه نور کارونه هم لرم، نه شم درتلی.
- وکیل صاحب هیله کوم.
- زما خبرې ته پام نه کوې او همدا وایې هیله کوم، هیله کوم، پرې مې ږده، زه وزیر صاحب نه شم خپه کولی ...

ketabton.com - The Digital Library



په تلفون کې مې یو بل غږ تر غوږ شو ، خو سم پرې پوه نه شوم. وکیل وویل: (( هلکه ! ته یو شیبه صبر وکړه، چې وزیر صاحب څه وایي. ))
دوې دقیقې وروسته هغه وویل: (( زمونږ مجلس دې راخراب کړ، په خپلو خبرو دې د وزیر صاحب زړه هم تنګ کړ، بس د وزیر صاحب په خبره دا یوه بله پیاله چای هم څښم او درځم، خو ګوره، چې ډېر وخت مې ونه نیسې. ))
- ډېره مننه وکیل صاحب. زه تاسو ته په تمه یم، په خیر راشئ.
په ډېرې خوشالۍ دفتر ته راغلم. د راډیو مشر خپل دفتر ته وغوښتم. همدا ، چې دفتر ته یې ننوتم، ویې ویل: (( ډېر ځنډ دې وکړ، مېلمه دې څه شو ؟ ))
- صاحب هغه راځي.
- راځي !؟ یعنې څه، ته خو ورپسې تللی وې.
- هغه بل ځای ته تللی و ، ویل یې، چې له هغه ځایه سیخ زمونږ دفتر ته راځي.
- څه وخت راځي، ورځ تېرېږي، ته به هغه څه وخت ایډیټ کوې او ارزیابۍ ته یې سپارې. سبا سهار د وخته باید نشر شي.
- بس لس پنځه لس دقیقې وروسته به راشي.
- ته بیا ورته تلفون وکړه، ورته ووایه، چې وخت کم دی او موضوع مهمه ده.

ketabton.com - The Digital Library



د مشر له دفتر نه ووتم، مبایل مې له جېب نه راوویست، چې وکیل صاحب ته زنګ ووهم، خو ژر پښېمانه شوم، چې هسې نه له غوسې نه هیڅ را نه شي. تر یو ساعته پورې ځو ځلې تر وره پورې لاړم او راغلم. رخصتۍ ته نږدې د ارزیابۍ د مسوول دفتر ته لاړم او هیله مې ترې وکړه، چې زما په خاطر لږ وروسته کور ته لاړ شي. کور یې ودان را سره یې ومنل.

لس دقیقې وروسته همدا ، چې د دفتر کارکوونکي کور ته د تګ په خاطر یو یو له خپلو شعبو راووتل او زه د دفتر له وره سره ولاړ وم، د ارزیابۍ مسوول را ته زنګ راوواهه: صابره ! چېرته یې؟ مېلمه دې لکه، چې معلوم نه شو.

- نه صاحب هغه راځي، خیر دی فقط یو څو دقیقې نور هم.

هغه په کړس کړس وخندل او ویې ویل، چې د مېلمه تر راتګه پاتې کېږي، خو دا اند ېښنه یې په زړه کې راواچوله، چې که وکیل صاحب هیڅ رانه شي بیا به څه کېږي؟ دې اند ېښنې سره سل زړونه مې یو کړل او وکیل صاحب ته مې زنګ وواهه. دا ځل هغه غوړېږ ژر پورته کړه: (( هلو ! شله ژورنالسته څنګه یې؟ بس دا دی ستاسو د راډیو په کوڅه کې یم. ))

دا ځل د هغه په اواز کې ډېره مینه او خواخوږي وه. لکه ښځې، چې بدل شوی وي.

ketabton.com - The Digital Library



بیا بیا مې ترې مننه وکړه او په بېړه کوځې ته ووتم. هغه له یو لکسس موټر نه راښکته شو او زما په لیدو یې وویل: ((ته لکه، چې هماغه شله یې؟ هغه په ما ، چې ډېر زورور دی؟))

ما له خوشالۍ نه دوه درې ځلې سترې مشي ورکړه او دواړه د ستډیو په لور روان شوو. هغه په تګ تګ کې وویل: ((ستا خبره خو په ځمکه نه شم غورځولې، خو ګوره، چې مرکه لنډه ونیسې، زه د شپې یو ځای مېلمه یم، کور ته هم باید لاړ شم، چې جامې بدلې کړم.))

ـ بس لس دقیقې وخت مو نیسم، زیات نه.

د راډیو د مشر او د ارزیابۍ د مسوول دفترونه ستډیو ته نږدې وو، د مېلمه په لیدو دواړه وغوړېدل. زه او وکیل صاحب ستډیو ته ننوتو. مرکه لږه اوږده شوه. زما پوښتنې لنډې وې، خو وکیل صاحب د هرې پوښتنې لپاره اوږده ځوابونه ورکول. غوښتل مې ځینې نورې پوښتنې هم ترې وکړم، خو د وکیل صاحب د مېلمستیا او د ارزیابۍ پر مسوول د نه ناوخته کېدو په خاطر مې د مرکې د ختمولو لپاره ځان چمتو کاوه، خو وکیل صاحب ګرم راغلی و او هر وار، چې ما ویل وکیل صاحب ډېره مننه، چې زموږ راډیو ته... ، خو هغه به سم د واره راغبرګه کړه، چې رښتیا ته صبر، چې یو څه مې راپه یاد شول. په همدې همدې کې ښه ځیر وم، چې د ارزیابۍ مسوول هر پنځه دقیقې وروسته راته او خپل لاسي ساعت ته به یې اشاره وکړه. مرکې پوره ۴۵ دقیقې دوام وکړ. کله، چې ووتو د ماښام خړه لګېدلې وه. زړه کې مې تېر شول، چې

ketabton.com - The Digital Library



وکیل صاحب ونه وایي رابانديې ناوخته دې کړه. خو نه، هغه څه ونه ویل. وکیل صاحب د وره په طرف په تګ تګ کې موسکی شو او ویې ویل: (( ښه سړی راته ښکاره شوې، له همدې خاطره یوه خبره درسره شریکوم. ))

- مهرباني وکړئ صاحب، دا ستاسو شفقت او اعتماد دی، خو وبښئ، چې مرکه لږه اوږده شوه.

-نه پروا نه کوي، خو ګوره تاسې ژورنالستان خو بلا خلک یاست، له هغې خبرې به خبر شوی یې؟

- له کومې خبرې؟

- ګوره ! زه چې له وزیر صاحب سره ناست وم، یو چا ورته په ټلفون کې وویل، چې د انتخاباتو کمیسیون غواړي د ولسي جرګې انتخابات په خپل وخت وشي. نو مقصد فکر دې وي، هم مې مرکو ته راغواړه او هم نوره مرسته باید راسره وکړې!

۱۳۸۸/۱۰/۵

ketabton.com - The Digital Library



# چلنج

د دربیم ځل لپاره مې د خپل مبایل د مسیج تنۍ کېکاږله، چې ناجیې ته د خپل زړه خبره ولیکم. دې سره یو ژور سوچ په مخه کړم. زړه نازړه شوم او له ځانه سره مې وویل: ((نه، نه! هغه راته ګرانه ده، د هغې کرکه هم راته مینه ښکاري. نور نو نه شم کولی، ما خو دا نه ګڼله، چې هغه دې داسې راسره واخلي.))
دا فکر ځکه راسره پیدا شوی و، چې تېر وختونه او یادونه دغسې وو، چې هیڅچا به هم دا نه ګڼله، چې زه او هغه په کوم شي سره وران شو.
ښه مې په یاد پرېږي یوه ورځ ارین، چې زما او د هغې تر منځ ولاړه وه، ویې ویل: ((هغه به هم ورځ وي، چې زه تاسې دواړه له یو بل نه خپه او په جنګ وګورم.))
ما هیڅ ونه ویل، خو ناجیې په کړس کړس وخندل او ویې ویل: ((ته به همداسې ارماني پاتې شې.))

ketabton.com - The Digital Library



که څه هم د ارینې دې خبرې یو څه اندېښنه غوندې راته پیدا کړې وه، خو د ناجیې خبرې مې زړه ته قوت ورکړ.
ناجیه ډېره ترخه وه، خو زړه یې راته سپین او له مینې ډک ښکارېده. له کومې ورځې، چې هغه زموږ دفتر ته راغله، نېوهېږم ولې ورځ په ورځې راته ګرانېده او د خپل زړه هره خبره مې ورسره شریکوله. د دې لپاره، چې هغه رانه کله خپه نه شي، هره خبره مې یې ورسره منله او هغې هم د خپل ژوند ډېرې پټې او ښکاره راسره شریکولې. کله کله به ما څوروله هم. کله، چې به مې ډېره په تنګوله، هغه به موسکۍ شوه او یوازې همدومره به یې ویل: (( خاینه ))
زه او هغه سهار او ماښام یو ځای په موټر کې سره تلو او راتلو، د هغې هڅه، جرئت او پرخپل ځان باور، ور ته نور هم ورنږدې کړی وم.
زما سګرټ څکل یې نه خوښېدل، خو دا یې نه راته ویل، چې سګرټ پرېږده، ځکه دا سې احساس مې کاوه، چې هغې په دا سې ویلو نه خپه کولم. خو کله کله به یې، همدا چې دفتر ته راورسېدو، زموږ یو بل همکار ته، چې هغه هم زیات سګرټ څکول، ویل: (( ته او صبور ریل ګاډي یاست، ټوله ورځ تاسو یاست او سګرټ څکول. ))
کله کله به د هغې دې خبرې هڅولم، چې سګرټ پرېږدم، خو ډېر ژر به مې یوه بله خبره زړه ته لاره وکړه: (( سګرټ خو به پرېږدم، خو بیا به دا خبره څوک راته کوي، چې: (( ریل بیا چالان شو. ))

ketabton.com - The Digital Library



د هغې له خولې دا د ریل بیا چالان شو، خبرې ډېر خوند راکاوه او نه مې غوښته، چې د هغې د اورېدو خوند له لاسه ورکړم.
د هغې خوش سلیقه ګي او ځان ته رسېدنې، د هغې بل کمال و، خو ما ته یوازې په زېړو جامو کې ډېره ښکلې او ښه ښکارېده، څو پلا مې دا خبره ورته وکړه، چې په نورو جامو کې ښه ښکارې، خو زه دې، چې په زېړو جامو کې ګورم، روحي ارامي ترلاسه کوم. زما له دې خبرې سره به هغه په خندا شوه او وبه یې ویل: ((خاینه! ته خو هیڅ سلیقه نه لرې.))
یوه ورځ هغې یو څه په غوسه راته وویل: ((اخر ته مدیر یې، داسې خړپړ او بې سلیقې مه ګرځه، لږ خپل ځانته رسېږه.))
خو ما دا دی ترننه هم داسې کوښښ نه دی کړی، چې په موډ برابره دریشي وکړم او یا روښانه رنګداره یخن قاق واغوندم. بده خو لا دا، چې هغه هم ډېره په دې ځورېږي او کله کله راته غوسه هم پرې کوي، چې ولې زه له دریشۍ سره کرمیچې او یا ساقداره بوټان اغوندم.
ناجیه ډېره با استعداده او پرکاره وه، پر دې ډېر خوشاله وم، چې هغې په خپلو هڅو وخت په وخت ارتقا کوله او دا راته خوند راکاوه، چې ورته ویل مې، زه درسره یم، امر ستا منډې زما. هغه به هم خوشاله وه، خو هیڅکله یې هم کوښښ نه کاوه، چې زه دې په ډېر کار ستړی شم.
هغې زما خپګان نه غوښت او ما د هغې. د یو بل د خوشالۍ لپاره مو د یو بل ځینې خبرې هم زغملې، خو نپوهېږم ولې هغه کرار کرار لا پسې

ketabton.com - The Digital Library



جدي کېده، ژر په غوسه کېده او په مالي چارو کې يې ډېر حساس برخورد کاوه. موږ دواړه يوه جمعه بعد په دفتر کې نوکريوال کېدلو او د جمعې د ورځې مصرف ډېر ځله ما سره او کله کله به هم له هغې سره وه.

سبا ته جمعه او د هغې نوکري وه، په تېره جمعه کې ما پنځه ويشت روپۍ زياتې لګولې وې او هغې ځو واره راته وويل، چې د مصرف پنځه ويشت روپۍ کمې دي، هغه پوره کړه، بيا يې راکړه. ما هغه پيسې پوره کړې او ور مې کړې. په دې مې زړه يو څه مات شو، په دې نه، چې ولې مې پنځه ويشت روپۍ زياتې لګېدلې وې او تاوان مې ورکړ، خپه په دې وم، چې ولې يې دا خبره راکلکه کړه او ويې ويل: (( زه پوره پيسې غواړم، تا خاني کړې، تاوان يې پخپله ورکړه. ))

مياشت وروسته، چې دا ځل پيسې له هغې سره وې، پنځوس روپۍ په کې کمې وې، چې ما ته يې راکړې. زما له خولې هسې خبره ووتله، چې ولې دا پيسې کمې دي. زما له پوښتنې سره هغې سمدستي راغبرګه کړه: (( نپوهېږم، چې نورې څنګه لګېدلې دي. ))

دې خبرې نه وم ځورولی، چې پيسې ولې کمې دي، خو د هغې دې خبرې ډېر وځورولم، چې په ډېر عادي ډول يې وويل، چې نپوهېږم، څنګه هغه پيسې لګېدلې دي. هغه شېبه خو دې خبرې دومره اغېز راباندې نه و کړی، خو وروسته وروسته يې زړه را ته خوږ او په خيال کې له هغې سره لګيا شوم: (( هغه تېره جمعه تا د پنځه ويشت روپو په

ketabton.com - The Digital Library



خاطر، کلک ونیولم خو دا ځل، چې تا تر ما دوه چنده پیسې لګولې دي. ځان نه ملامتوې.))
دا خپګان ډېر راسره پاتې نه شو، ځکه ما هغه منلې وه، چې باجرئته، کاریګره او د پاک زړه خاونده ده او تر ټولو ښه خبره راته دا ښکارېده، چې زما دوسته د اوچت شخصیت څښتنه وه او دا سې ژوند یې کړی و، چې هیچا هم ورته د خو ګوته نه شوای نیولای.
ناجیه ځکه راته ګرانېده، چې زما د خوشالۍ لپاره یې ډېر څه کول. یو پلا د اسې څوک یې مقرر کړ، چې په پوهنتون کې یې درس وایه، خو چنداني سواد یې نه درلود. ما هغه له ځان سره ونیو. خو یوه ورځ مې ځان پر دي ملامت کړ، چې ولې مې هغه راووست. خو بیا هم څه، چې مې زده وو، له هغه سره مې شریکول.
یوه ورځ هغه په مقایسوي ډول زما او د ناجیې ترمنځ د ورتیا خبره وکړه او ویې ویل:
(( د متن په لوستلو کې ته تر صبور صاحب ډېره ښه یې.))
هغې یوازې هغه ته وکتل او نور یې څه ورته ونه ویل. تر هغه یو ساعت وروسته زه د سرمقالې په لیکلو بوخت وم، چې هغه راغی او ویې ویل:
(( ته مه خپه کېږه ! ما خو یوازې دومره غوښتل، چې د هغې صفت وکړم او هغه ما رسمي مقرر کړي.))
د هغه دې خبرې ځکه غوسه راوسته، چې نیت یې راته ښه ښکاره نه شو. یو ماسپښین ما څه پاڼې کتلې، چې هغه برابرې کړې وې. هغه پاڼې د ډېر ایډیت له کبله د قلم په رنګ سرې شوې وې. هره کرښه کې

ketabton.com - The Digital Library



یې پنځه شپږ غلطۍ وې. هغه مې ورته ورکړلې، چې د متن سمولو لپاره یې کمپیوترکار ته ورکړي. څو شیبې وروسته هغه په بیړه راغی او ویې ویل: ((دا کمپیوترکار ګوره او پر ژورنالست خبرې کول.))
ما ورپوښتل: ((ولې څه شوي؟))
ـ هغه را ته وویل، چې دا متن به دې اول خپل مدیر ته ورکاوه، چې په کمپیوتر کې یې اصلاح کاوه، یو ځلې کار دوه ځلي راباندې کوې. ستا سر د کار نه دی، چې کار نه درځي، ولې زموږ ماغزه خورې.
ـ دا خو یې بد نه دي ویلي، ته هم منې، چې خطا ستا ده، خو زه کمپیوترکار سره هم خبرې کوم.
زما له وروستۍ خبرې سره د هغه رنګ بدل شو. زه او هغه د ډیزاین شعبې ته لاړو او پوښتنه مې وکړله، چې څه خبره وه. مخکې له دې، چې کمپیوټر کار څه ووایي نورو وویل، چې ژورنالست ملامت دی. هغه سر ښکته اچولی و او هیڅ یې هم نه ویل.
ما ور ته وویل، چې کار داسې نه کیږي، خلک له ځانه مه خپه کوه. دا ستا د زده کړې ورځې دي، هڅه وکړه، چې کومه غلطي درنه و نه شي.
هغه بښنه وغوښته او تر ما مخکې د ډیزاین له شعبې ووت.
یو ساعت وروسته مې په خپل کمپیوتر کې د مجلې نوې لیکنې او رپوټونه لوستل، چې هغه راغی او ویې ویل: ((استاده! زه نور په راډیو کې اقتصادي خبرونه نه وایم.))

ketabton.com - The Digital Library



ما ور ته وویل، چې څنګه ستا خوښه وي، خو د خبرونو له مسوول سره وغږېږه.
ډوډۍ مو یوځای سره وخوړله، تر ډوډۍ وروسته هغه وویل: ((استاده! زه نور ستړی یم، نور نو دلته کار نه شم کولای.))
ما پر ولي وډباوه او ورته ومې ویل: ((خپل کار دې کوه، ځان ورسوه، اضافي خبرو پسې ګرځه مه.))
نږدې مازیګر له اداري مدیر سره ناست وم او خبرې مې ورسره کولې، چې هغه راغی، خپل موقتي کارټ یې، چې مونږ ورکړی و، پر مېز ګوزار کړ: ((زه نور دلته کار نه شم کولای.))
ما ډېر ټینګار وکړ، چې هغه خپل کارټ بېرته واخلي، خو هغه په منډه له اداري دفتر نه ووت. هغه سبا ته رانغی، په بل سبا هم زه منتظر وم، چې ګوندې راشي.
په وروستیو کې د هغه په راوستلو، خوښ نه وم. ځکه هغه پسې شا په هر چا پسې خبرې کولې، پلانکی داسې دی او پلانکۍ داسې ده. ټوله ورځ یې غیبت یې کاوه. یوه پلا یې زما د دوستې په اړه هم یوه داسې خبره وکړه، چې قریب و د هغې ناکاره خبرې په سر هغه له ګریوانه ونیسم.
په هغه ورځ هم، زه او هغه د اداري له مشرې ناجیې سره ناست وو، که څه هم ما غوښتنه وکړه، چې مشره دې لومړی له هغه سره وغږېږي او بیا زه ورځم او خپلې خبرې کوم. خو هغې ونه منله او مونږ یې سره مخامخ کېنولو. هغه خپل ځان ته د برائت ورکولو لپاره په درواغ ویلو

ketabton.com - The Digital Library



شروع وکړه. دوه ځلې، چې ما به ویل خبره خو داسې ده، هغه به وویل، هو وبښئ، استاد رښتیا وایې.
مشرې ډېر ټینګار وکړ، چې هغه معاف کړم، خو د هغه درواغو په دې اړه زه دې پرېکړې ته ورسولم، چې هغه معاف کولای نه شم، خو که اداره هر تصمیم نیسي زه په کې څه نه وایم.
وروسته راته معلومه شوه، له دې کبله، چې ولې ما د هغې په وینا، هلک ونه باښه، سخته خپه شوې ده.
له هغې ورځې وروسته د دې لپاره، چې خپله خپه دوسته بېرته پخلا کړم، هڅه مې کوله، د هغې حتی یوه خبره هم پر ځمکه ونه غورځوم. خو هغې ورځ په ورځې راسره خپګان زیاتاوه.
دا هرڅه په ډېره منډه زما له سترګو تېر شول.
زړه را ته وویل، چې دوسته مې په زړه کې راسره پخلا ده، ځکه په دې وروستیو کې زما د ناروغتیا له کبله ډېره خپه وه او زه یې اړ کړم، چې ډاکتر ته لاړ شم. نو ومې پتییله، چې ځان ته د هغې د توجه له کبله خامخا ورته یو مسیج ولیکم.
مسیج مې ولیکه: (( قدرمنې ناجیې ! سلامونه.
له ډېرې مودې مې زړه، ما دې ته هڅوي، چې تا ته دا کرښې ولیکم.
له څه کم دوو کلونو راهیسې فکر کوم، چې زه خپله یوه غښتلې، متجربه، پر خپل ځان متکې او بااستعداده دوسته، چې د مشرې خور په حیث مې زړه کې ځای لري، له ځانه خپه وینم. ایا ته کولای شې، چې

ketabton.com - The Digital Library



هغه دوسته مې راسره پخلا کړې او هغه دوسته مې بېرته راته راکړې، چې زه هر وخت پرې د پر حساب کوم.))
پر دې مسيج د پر وخت تېر شو، خو ما د هغې کوم غبرګون ونه ليد، همدا تېره اوونۍ، چې هغه چېرته روانه وه، ما ورنه وپوښتل، چې ايا زما مسيج دې ترلاسه کړی.
هغې وويل: نه
- ما دا لس ورځې کېږي، چې يو مسيج درلېږلی دی. خو ځه له سره به يې درته ولېږم.
-مه يې ليکه، همدا سې يې راته ووايه.
-مخامخ يې درته نه وايم، وبه يې ولېږم هسې نه زړه مې مات شي.
ما هملته د هغې ترمخه يو ځل بيا هغه مسيج ورولېږه. خو ونه رسيده، فکر مې وکړ، چې د مبايل حافظه او ږد متن نه شي اخيستی. په همدې فکر مې خپل مبايل هغې ته پرېښود، چې هغه مسېج زما په موبايل کې ولولي.
هغه ورځ زه په کار بند وم او هغه په بېړه له دفتره وتلې وه، ما ورته زنګ وواهه: ((هغه مسېج دې ولوست؟))
-ومې لوست، خو خبره په کې ګونګه ده، هغه دوسته دې څوک ده؟
-ولې نوم يې ليکلی!
-زه پوهه نه شوم!
-ته د مسيج د پيل کلمه ولوله، بيا هغه پېژنې!

ketabton.com - The Digital Library



هغې په کړس کړس وخندل: (( ای خاینه ))
ما فکر وکړ، چې دوسته مې بېرته خپله شوه، یو څه روحي ارامي مې ترلاسه کړه، خو لس ورځې ورځې وروسته، چې هغه بېرته له سفر نه راغله، د راتګ په دویمه ورځ یې خپل زړه راکلک کړلم، چې ورشم او ترې وپوښتم، چې زما د دوستې خبره څنګه شوه. هغې مخامخ راته وکتل: (( هغه دوسته دې نه درسره پخلا کېږي، زه دې هغه دوسته، چې ګمان یې کاوه ته به په هر وخت کې د هغې پړه په ځان منې، نه شم پخلا کولای. ځکه هغې پر تا دومره ډاډ درلود که کوم قتل وکړي نو پړه به یې ته پر غاړه اخلې. ))
زما سترګې راډکې شوې، کومه رواني ناروغي مې، چې درلوده لاپسې زیاته شوه. تر ډېر ټېنګار وروسته هم هغې ونه غوښتل، چې زما دوسته ما سره پخلا کړي.
نهیلی اړ کړم، چې له شعبې یې ووځم. له دروازې چې وتلم، ورته مې وویل: (( ایا رښتیا ته زما هغه دوسته ما ته نه راکوې. ))
ـ نه ! دا سخته ده، چې هغه دې بیا دوسته شي.
ـ خیر ! ته خو وایه، خو زه خپله دوسته بېرته ترلاسه کوم.
هغې وویل: ((ځه دا دې زما او ستا ترمنځ چلنج وي. ))
۱۳۸۸/۸/۲۳

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



# نوې جامې

ماشوم په منډه کوټې ته راووت. خپلو جامو ته يې وکتل، خپل واسکټ يې پورته پورته وغورځاوه او په پوزه يې د يوې ژورې ساه په اخيستو سره ښکته پورته کوټې ته ځير شو، خو چې څوک يې ونه ليدل، يو سوړ اسويلی يې وکيښاو له ځانه سره يې وويل: (( همدلته ودرېږم، جمال به راشي، جامې به مې ورته ښايم. ))
ډېر ځنډ هلته ودرېد، خو جمال راونه وت. زړه يې تنګ شو. کرار کرار د کوټې برې خواته وخوځېد او له خپل کور نه څلور پنځه کوره وړاندې يوې دروازې ته ودرېد. دروازه نيم کښېه وه، غوښتل يې ننوځي، چې يو سور لنډ کروزر موټر، چې توري ښيښې يې درلودې په زورور بريک د هغه ترڅنګه ودرېد. د موټر شاتنۍ دروازه خلاصه شوه، يو د اوږدو ويښتانو خاوند په بېړه ترې راښکته شو، د سترګو په رپ کې يې هغه په غېږ کې ونيو او بېرته په منډه موټر ته وخوت.

ketabton.com - The Digital Library



ساعت وروسته، ماشوم، چې په یوه تیاره کوټه کې د یو زوړ چپرکټ پر سر پروت و، په سد شو. خپلې سترګې یې وموښلې او غږ یې وکړ: ((جماله! راشه، جامې مې وګوره.))

د هغه له دې خبرې سره د څو تنو خندا او شور و زوږ کوټه په سر واخیسته. هغه نېغ پر خپل ځای کېناست. اوتر اوتر یې هاخوا دیخوا وکتل. د کوټې په بر کنج کې یې په شپږو تنو نظر پرېوت، د ټولو اوږده اوږده وېښتان او ببرې ږېرې وې. د هغوی په لیدو ووېرېد، خپلو سترګو ته یې لاسونه ونیول او یوه اوچته چیغه یې کړه.

د هغه له چیغې سره هماغه سړي، چې په زوره یې موټر ته خېژولی و، له مټه ونیو، په زوره یې ځان طرف ته راکش کړ او پوزې ته یې دستمال ونیو.

ماشوم بېرته بې سده شو. د هغه له ژر بې سده کېدو سره یو تن، چې په کوټه کې په یوازنۍ ایښې څوکۍ ناست و، چټک راپاڅېد، د خپل ملګري له لاسه یې دستمال واخیست او خپلې پوزې ته یې له نږدې کولو سره هغه لرې خطا کړ: ((توره! مواد تېز دي، دا ځل دې لکه، چې په رښتیا هلک له دنیا تېر کړ، څو ځلې مې درته وویل، چې لږ مواد کاروه، ګمان نه کوم، چې ژوندی پاتې شي.))

تور کټ په خندا شو: ((سرداره! ته هسې غوسه کوې، مواد قوي نه دي، ماشوم کمزوری دی.))

ketabton.com - The Digital Library



ـ هلک د مړې کورنۍ دی، کمزوری نه دی، خو که مړ شو، دا ځل دې مشر نه ښيي، موږ به هم درسره خراب شو، دعا کوه، چې د مشر تر راتګه...

سردار لا خپله خبره نه وه خلاصه کړې، چې د دوی پېره دار ملګری کوټې ته راننوت: ((مشر راورسېد، په حویلۍ کې له چا سره په ټلفون کې لګیا دی.))

له دې خبرې سره د شپږو واړو ملګرو رنګونه والوتل. سردار د ماشوم د زړه او ملګري يې د هغه د پښو او لاسونو په مښلو لګیا شول او یو بل يې پر مخ اوبه شېندلې. خو هرڅومره کوښښ يې، چې وکړ ماشوم په سد نه شو. سردار خپل لاسونه سره ومروړل او تور ته يې بد بد وکتل: ((اوس به څه کوو؟ مشر به يې خامخا له پلار سره ټلفون کې خبرې کړې وي، ته خو ختم يې، موږ به هم برباد شو.))

د مشر په انتظار کې ټولو شېبه په شېبه وره ته کتل، خو د مشر پته و نه لګېده. سردار خپل ساعت ته وکتل، خپل لوښتکي ملګري ته يې، چې د ماشوم پرمخ اوبه شیندلې، وویل: ((قدو! ته ورشه وګوره، چې مشر ولې وځنډېد؟ هغه خو یو ولس نیمې بجې، چې راغلی او اوس دا دی دولس بجې دي.))

قدو د اوبو جک تور ته ورکړ او لا له ځایه نه و پاڅېدلی، چې د هغوی پېره دار ملګری بیا کوټې ته راننوت او ويې ویل: ((مشر بېرته لاړ، ویل يې، چې نیم ساعت وروسته راځي.))

ketabton.com - The Digital Library



د هغه له دې خبرې سره په ټولو کې لړه ساه ورغړېده او بیا په بېړه بېړه د ماشوم د پښو او لاسونو په مښودلو بوخت شول.

د اذان تت غږ تر غوږ شو، خو ماشوم لا هم بې سده پروت و. سردار له ځایه راپاڅېد، کوټه یې څوځلې ګزوپل کړه، یوه ژوره ساه یې واخیسته، د کوټې بر کونج ته لاړ او له څوکۍ سره نږدې ودرېد، غاښونه یې وچیچل او په لږ لوړ اواز یې، غږ وکړ: (( توره، دلته راشه ! ))

تور وېرېدلی د هغه مخې ته ودرېد، ده یوه کلکه څپېړه ورکړه: (( زړه خو مې غواړي، چې تا هم په دې ماشوم پسې له دنیا تېر کړم، زموږه ټوله خواري دې په اوبو لاهو... ))

د سردار له دې خبرې سره ور پرانستل شو او مشر کوټې ته راننوت. د هغه له راننوتو سره د شپېږو واړو په وجود لړزه ننوته او ځوړند سر د هغه مخې ته ودرېدل. مشر پرته له دې، چې دوی ته وګوري، په خوشالۍ یې وویل: (( د ببړې کارو، خو افرین، ښه مو ترسره کړ. ))

هغه یو ګام د خپلو ملګرو خوا ته نږدې شو او په کړس کړس یې وخندل: (( غوړه مړی ده، ډېره غوړه، ها ها ها ))

مشر ښه شېبه همداسې وخندل، خو چې ملګرو یې د خندا ملګرتیا ونه کړه، حیران حیران یې ورته وکتل، د هغوی ځوړندو سرونو هېښ کړ: (( څه خبره ده، ماشوم چېرې؟ ))

ketabton.com - The Digital Library



د مشر له غوسې سره د ټولو واروپار نور هم خطا شو. سردار وویل: ((ص... صصا...صاحب. ما...ما...ماش... ماشوم...ام...ام... ))
د سردار له ام ام سره ماشوم نالبنت پیل کړ او د هغه له نالبنت سره ټولو په یوه خوله وویل: (( ماشوم بې خوبه و، ویده و. ها ها ها ))
مشر ماشوم ته ورلنډ شو، په ځیر ځیر یې ورته وکتل: (( جالبه ده، د مړې کورنۍ او دومره خوار؟ ))
د مشر له دې خبرې سره تور، سردار ته وکتل او ویې ویل: (( ما خو ویل، چې ماشوم کمزوری دی، خو تا نه منل. ))
مشر هغه ته مخ واړاوه: (( مطلب؟ ))
- صاحب! سردار ما ته په غوسه و، چې...
- چې څه؟
چې قوي مواد مې استعمال کړي
- نو څه؟
- هغه فکر کاوه، چې دوا ماشوم وژلی.
مشر په خندا شو: (( ښه! نو یوه شېبه مخکې ځکه ګیدړان شوي وئ؟ ))
سردار ورغبرګه کړه: (( هو صاحب! زه خو بیخي وبربدلی وم. تور چې کوم مواد کاروي، ډېر قوي دي. ))
مشر تور ته مخ ورواړاوه: (( خبیثه! یو ځل خو مې وبښلې، بیا نه رانه خلاصیږې. ))

ketabton.com - The Digital Library



د مشر په غوسې تور اوار وربېږد ېد:((صه...صه.. صاحب ! زه...زه احتیاط...کوم، او...س...اوس مې...هه...هه... هم قوي مه...مه...مواد... نه دي استعمال کړي، تا...تاسو خپله هم وویل، چې ما...ما...ماشوم کم...کم...کمزوری دی.))

مشر د دې لپاره، چې د تور وارخطایي کمه کړې وي، په کړس کړس یې وخندل او خوله یې جوړه کړه، چې څه ووایي، خو د ماشوم د نالښت له کرار کرار کمېدو او بیا بې سده کېدو سره، خبره یې په خوله کې وچه شوه. وارخطا او په ځیر ځیر یې هغه ته وکتل. د ماشوم رنګ سپین اوښتی و. ژر یې د هغه پر سینې غوږ کېښود. یو دم راپاڅېد، تور یې تر لغتو او سوکانو لاندې ونیو: ((ژوندی دې نه پرېږدم.))

پر تور سر وګرځېد او درز پر ځمکه پرېوت. مشر، سردار ته مخ واړاوه. سردار یو قدم شاته شو. خو دی د هغه له څنګه کرار تېر شو، د ماشوم تر څنګه کېناست، ښه شېبه یې هغه ته وکتل، بیا بیا یې د هغه پر سینې غوږ کېښود، خو چې کوم غږ یې وانهورېد، ویې ویل: ((د تاسو خبیثانو د لاسه مې غټه مړی له خولې ووته. خو خیر ما ته هم جبار وایي، یو به هم رانه ښه ورځ ونه ګورئ.))

هغه څه شېبه غلی غلی ماشوم ته وکتل، بیا یې ورغبرګه کړه: ((ما یې پلار ته ټلفون وکړ، هغه ومنله، چې پنځه لکه ډالر راکوي، خو ویل یې، چې یو ځل باید له خپل زوی سره خبرې وکړي. زه یې پېژنم ډارن دی، خو ډېر ډاډه ښکارېده، هیڅ وارخطا نه شو.))

ketabton.com - The Digital Library



تر څه سوچ وروسته یې بیا غږ اوچت شو: (( ولې به وارخطا کېږه، هغه ته پنځه لکه ډالر څه دي، لوی تاجر دی. ویل یې، همدا چې له خپل زوی سره خبرې وکړي، کوم ځای، چې زه ورته وښییم، پیسې به هلته راوړي. ))
د ماشوم له څنګه پاڅېد او په قدم وهلو بوخت شو: (( که اوس ورته ټلفون وکړم او هغه له خپل زوی سره خبرې وغواړي، بیا څه وکړم. ))
له دې خبرې سره غوسه ورغله، پر سردار یې ټوپ وکړ، هغه یې له ګرېوانه ونیو، خو مخکې له دې، چې پر هغه وار و ګوزار وکړي، د ماشوم غږ اوچت شو: (( مورې، مورې. ))
د هغه له غږ سره، جبار د هغه خوا ته ورمنډه کړه، په ډېره خوشالۍ یې هغه په غېږ کې ونیو، بیا خپلو کسانو ته یې مخ واړاوه: (( بچ شوئ، بچ شوئ، ماتم بند، وخاندئ. ))
نور هسې موسک شول، خو تور چې لا هم پر ځمکه پروت و، پخپل لستوڼي یې خپله په وینو ککړه خوله پاکه کړه، په زوره زوره یې وخندل. جبار پرې غږ وکړ: (( اوس خانده، خو د ښنلو هم نه یې. ))
ماشوم اوبه وغوښتې. جبار هغه له غېږې راښکته کړ، پر چپرکټ یې وغځاوه او قدو ته یې وویل: (( هله ژر شه، یوه یخه پیپسي راوړه. ))
جبار پخپل لاس هغه ته پیپسي ورکړل، ماشوم کرار کرار سترګې وغړولې، خو د جبار او د هغه د ملګرو په لیدو بیا په چیغو شو.

ketabton.com - The Digital Library



جبار د هغه په خولې لاس کېښود: (( چوپ، چوپ ! وېرېږه مه، نوره پیپسي هم خورې، در یې کړم؟ ))
ماشوم لومړی د پیپسي بوتل او بیا اوتر اوتر جبار او د هغه ملګرو ته وکتل. جبار هغه کېناوه او د پیپسي بوتل یې ورته ورکړ: ((خوره، خوره ! ))
ماشوم په رېږدېدلو لاسو د پیپسي بوتل واخیست، پیپسي یې په جامو چپه شوه. د جامو په لمدېدو سره یې بوتل ایسته خطا کړ: (( زما جامې. زما جامې. ))
جبار، د هغه پر سر لاس تېر کړ:(( ژاړه مه، نوې جامې درته راوړو. ))
ماشوم موسک شو: (( نوې جامې؟ ))
ـهو ! نوې او ډولي جامې
ماشوم ته د جبار دې خبرې لکه، چې خوند ورکړ، تر څه سوچ وروسته یې وویل: (( هغه به جمال ته ښکاره کړم. ))
ـجمال ! جمال څوک دی؟
ـانډېوال مې. هغوی ځي.
ـښه، ښه ! ځي، چېرته ځي؟
ـهغه هره ورځ نوې جامې اغوندي.
جبار په شکمن نظر ورته وکتل: (( ستا څه نوم دی؟ ))
ـاجمل
ـد پلار دې څه نوم دی؟

ketabton.com - The Digital Library



ـ شریف

د شریف د نامه په اورېدو ، جبار چورتي غوندې شو او په تریو تندي یې له ماشوم نه وپوښتل: (( تا وې د پلار نوم دې شریف دی؟ ))

ماشوم وډار شو: (( هو ! ش... شه... شریف. ))

جبار بیا وپوښتل: (( تا ووې، چې جمال دوی ځي؟ ))

ـ هو ، ځي.

جبار په بېړه بېړه خپله رېږه وگروله. د ماشوم له څنگه راولاړ شو ، په غوسه غوسه یې سردار ته وکتل: ((اوو خبیثه ! ماشوم څه وایي؟ ))

سردار په وارخطایي وویل: ((صص...صا...صاحب ! تت... تا... تا چې څه ویلي وو...مو... موږ. هغسې... ))

د سردار خبره لا نه وه بشپړه، چې د جبار د مبایل زنگ اوچت شو ، ژر یې غوږ. ته کړ: (( وعلیکم، ژر ووایه، څه خبره ده؟... څه، دا هغه هلک نه دی، څه د کراچیوان زوی دی...دا څه بد کوې هغوی همدا اوس پرواز وکړ !؟ ))

جبار ټلفون په دیوال وویشت او سردار ته یې بد بد وکتل: (( خبیثه ! ما خو درته ویلي وو ، چې ډېر پام کوه. ))

جبار په زوره زوره خپل لاسونه ومروړل: (( زما چې بېړه وه، خو همدا مصیبت و ، چې هغوی روان وو. اخ ، اخ نو ، چې څه درسره وکړم. ))

دې سره جبار د سردار مخ ته سوکان ونیول او چې هغه یې په ډېرو وهلو وهلو پر ځمکه وغورځاوه، پر نورو یې شروع وکړه او تر هغه یې

ketabton.com - The Digital Library



ووهل، چې وینې پرې راماتې شوې. د هغو په چیغو او بغارو ماشوم هم په چیغو شو. جبار د هغه په لوري لاړ، هغه ته یې هم یوه کلکه څپېړه ورکړه: (( سپیه ! تا ته چا ویلي وو، چې د هغوی د کور ترمخه ودرېږه. ))

***

خړ ماښام، ماشوم خپل کور ته نږدې، په عمومي سړک کې د یوې کراچۍ ترڅنګه، مور مور نارې وهلې او په چیغو چیغو یې ژړل.
۱۳۸۷/۲/۲۰

ketabton.com - The Digital Library



# فرمان

سیما د خپل مېړه په لیدو، چې په دوو چګسونو، په ډېرې خوارۍ ستړی، ستومانه او اوتر پر دروازه راننوت، په منډه د کور د خاوندې له کوټې د هغه مخې ته ووته، هغه یې له لاسه ونیو او کرار کرار خپلې کوټې ته وخوځېدل.
په تګ تګ کې سیما له ځانه سره لګیا شوه:(( ښه شو، هغه دې په دار کړي، زجر کشه دې کړي. ))
مېړه یې ځای په ځای ودرېد:(( څوک ښیې، د چا خبره کوې، که د هغه ظالم خبره کوې، هغه څوک په دار کولای نه شي. زه خو اوس هم حیران یمه، چې هغه وخت څنګه ونیول شو او بندي شو. ))
د خاوند له دې خبرې سره، د څو شېبو مخکې خوشالي یې یو دم په غم بدله شوه، په سترګو کې یې اوښکې ډنډ شوې او د اسې ورو ورو د کوټې په لور وخوځېده، ته وا ډېر دروند پېټی پر ولو وړي.

ketabton.com - The Digital Library



د کوټې په یو کنج کې غلې کېناسته او په ژړا سر شوه. خاوند یې هم نږدې ورسره کېناست او ویې ویل: (( ژاړه مه، مه خپه کېږه، هسې ناپامۍ کې مې دا خبره له خولې ووته. ما ته خپل سوګند په یاد دی، زه بیا هیڅکله هغه خبره نه در په یادوم، خو تا څه دا سې خبره وکړه، چې ما ویل د هغه خنځیر زاني خبره کوې. ))

سیما، چې د خپل خاوند زرګل په څېره کې د خپګان نښې ولېدې، خپلې اوښکې یې پاکې کړې: ((نه ! ما د هغه خبره نه کوله. ))

- نو د چا خبره دې کوله، څه شوي دي؟

سیما سره له دې، چې غم او خپګان یې په څېره کې ښکاریدل، په یو څه خوشالي یې وویل: (( د کور خاوندې ویل، چې یو چا په بل ځای کې یوه وړه نجلۍ بې عزته کړې او رئیس جمهور حکم کړی، چې هغه زاني ژر ونیول شي. کاش، چې اعدام یې کړي، کاش نور د ژوند هیڅ ځکه ونه کړي. ))

سیما تر څه شېبې چوپتیا وروسته، ورغبرګه کړه: (( د کور خاوندې ویل، چې رئیس جمهور ډېر په غوسه دی، خپل حکومتیان یې، چې په دې خبره چپ پاتې وو، له وظیفې ایستلي دي. ))

خاوند یې یو سوړ اسویلی وکېښ: ((ډېر یې ښه کړي، خو ... ))

ـ هو ! ډېر یې ښه کړي، وایي، هغه زاني د پارلمان د وکیل زوی دی، د چا وس پرې بر نه دی، خو خدای رئیس جمهور پرې بر کړ، کاشکې تل همدا سې بر واوسي.

ketabton.com - The Digital Library



خاوند يې هم، چې ساړه ساړه اسويلي کښل، لاسونه په دعا پورته کړل:(( خدايه ! ته دا ظالمان نيست و نابود کړې. له نورو نه مې خو تمه پرې ده. اوس به څه کوو. )) دا وروستۍ جمله يې تر شونډو لاندې ووې.

له دې دعا سره، چې اوښکې يې په سترګو کې رغړېدې، ها خوا ديخوا وکتل او له سيما نه يې وپوښتل: (( لښته چېرې؟ ))

- هغه د کور له خاوندې سره کالي مينځي. خدای دې خير ورکړي، ډېره ښه ښځه ده، مور په زوره په کار کې ورسره لاس کوو.

- ښه کوئ، خدای دې ورسره ښه وکړي، که دوی ځای نه وای راکړی څه به مو کول، زما د لاسه خو هيڅ نه کيږي، د جوارو د پوليو په خرڅولو خو ژوند سخت دی.

سيما ته لکه، چې څه ورپه ياد شوي وي، له خپل خاوند نه يې وپوښتل: (( رښتيا خيريت خو و، چې نن دومره ډېر د وخته راغلې؟ ))

خاوند يې له ځان سره راوړې غوټه شاته کېښوده او تر څه سوچ وروسته يې وويل: (( خير و خيريت دی. څه خبره نه شته، د جوارو پولۍ خرڅې شوې، زه هم راغلم. ))

سيما غوټې ته په کتلو چورتي غوندې شوه، غوښتل يې څه وپوښتي، خو خاوند يې ورته وويل، چې چای ورته دم کړي. هغه همداسې چورتي له کوټې ووته. د هغې له وتلو سره زرګل په سوچ کې لاړ او له

ketabton.com - The Digital Library



ځانه سره لګیا شو: (( خدایه ! ته ورحمېږې؛ دا خواره هسې اسره کوې. ))
د ماسختن تر لمانځه وروسته همدا ، چې تیاره ښه په خوربدو شوه او ټول خپلو بسترو ته لاړل، سیما بیا دعا ګانې شروع کړې: (( خدایه ! زمونږ مشر، زمونږ پاچا ته نور زیات قوت هم ورکړې، دومره قوت، چې داسې زانیان او ظالمان له تېغه تېر کړي. ))
له همدې دعا ګانو سره د دوو کلو مخکې پېښې یې زړه ولړزاوه او هغه شېبه یې وریاده شوه، چې د سیمې قوماندان مازیګر مهال له خپلو څلورو ټوپکوالو سره د دوی پر کور راننوت او همدا چې د دې پر څوارلس کلنې لور لښتې د هغه نظر پرېوت، خپل یو ټوپکوال یې په اوږه وټپاوه او ورته یې وویل، چې ډېر بد یې، رښتیا دې ویلي وو، نجلۍ ډېره ښایسته ده، د ګلو لښته ده، لښته. او کله یې، چې دې ته وکتل ورغبرګه یې کړه: ((خود به ښایسته وي، چې مور یې ښکلې ده.))
د دې شېبې په یادېدو سره وربېږدېده، لړزې ونیوه، سترګې یې رډې رډې راوواوتې او د نه نه ! مه کوئ ! په ویلو سره یې هغه شېبه په سترګو کې انځور شوه، چې قوماندان د دې لور لښتې ته ورلنډ شو، غبرګه یې ترې چاپېره کړه او هغې کوټې ته یې، چې پلار یې شل و شوټ او زبون وهلی ناست و، ننویسته. خو همدا چې پر توشکه یې څملوله، دې پرې ور ټوپ کړه، خو د قوماندان ساتونکو راکلکه کړه. قوماندان خپلو

ketabton.com - The Digital Library



ساتونکو ته مخ ورواړاوه او ويې ويل: ((دا يې ستاسو ، خپلې مزې وکړئ !))
دوی ډېرې چيغې وکړې خو چا يې مرستې ته راونه دانګل. قوماندان د کوځې سر او اخر کې خپل ټوپکول درولي وو.
هغې ته وریاد شول، چې خاوند يې په يو کنج کې ناست و ، دا هر څه يې کتل او ژړل يې. يوه پلا يې سره له دې، چې له ځايه نه شوی پاڅېدی، لږ څه وخوځېد ، خو يوه ټوپکمار د ټوپک په کنداغ وواهه او په سر يې وينې راماتې کړې.
هغې ته دا هم ور په ياد شول، چې په سبا يې سل زړونه يو کړل او پر قوماندان يې عريضه وکړه. له ډېرو منډو ترړو وروسته يې غږ واورېدل شو او قوماندان سره له خپلو ټوپکيانو ونيول شو. د زړه اور يې هغه وخت لږ سوړ شو ، چې په قوماندان دولس کاله بند وخوت، خو دغه خوشالي يې يوازې هماغه ورځ او هماغه د محاکمې شېبه وه. ځکه له محکمې نه تر راستنېدو سمدستي وروسته په کلي او کوڅه کې خلکو ورته په بل نظر کتل او ځمکې ځای نه ورکاوه. اخر مجبوره شول، چې خپله کډه بار او ډېر لرې لاړ شي.
دې ته هغه شېبه هم وریاده شوه ، چې له خپل کلي نه د وتو په شپه کې يې کوښښ وکړ ، چې خپل ځان او خپله لور ووژني، خو خاوند يې په عذرونو عذرونو له ځان وژنې منع کړلې او ورته يې وويل، چې له دې کلي څخه به ووځي، ډېر لرې به ولاړ شي او هېڅکله به دا پېښه سره نه يادوي.

ketabton.com - The Digital Library



سیما ټوله شپه په اوښلنو سترګو په دعاګانو سبا کړه. د ملا له اذان سره له خپلې بسترې راولاړه شوه، اودس يې وکړ او تر لمانځه وروسته يې خپل لاسونه لپه کړل: ((خدايه! ته زموږ مشر ته ډېر قوت او زور ورکړې، دومره زور او قوت، چې هيڅ زاني او ظالم ژوندی پرې نږدي.))

کله چې يې جای نماز راټول کړ، غوښتل يې د چايو بندوبست وکړي، خو خوب پرې غلبه وروړه او خپلې بسترې ته لاړه. دم شېبه کې يې سترګې سره ورغلې. خوب کې يې د قوماندان د محکمې ورځ ولیده، چې تر محاکمې وروسته يې پر دې سترګې رابرګې کړې او ويې ويل: ((زه بېرته راګرځم، بيا به ګورو. يو به هم د ژوند څکه رانه ونه کړئ. تاسې درې واړه به له تېغه تېر کړم. بد مې وکړل، چې په هماغه ورځ مې ختم نه کړئ.))

سيما په بل اړخ واوښته او ويې ليدل، چې قوماندان له بنده خلاص شوی، په لته کې يې د دوی پته لګولې او پر کور يې راننوځي، يوه تېره توره يې په لاس کې ده او مخامخ د کوټې برکنج ته د دې د مېړه په لور ځي، توره پورته کوي، لومړی ښي لاس او بيا يې چپ لاس له بېخه پرې کوي. دا چيغه کوي او له چيغې سره نېغه پر خپل ځای کېني. خاوند يې ترې پوښتي: ((څه خبره ده، لکه چې کوم بد خوب دې وليد.))

ketabton.com - The Digital Library



سیما څه ونه ویل، له خپله ځایه راولاړه شوه، حویلۍ ته ووته، څو شېبې هاخوا دیخوا وګرځېده، چې لږه سترې شوه، د خپلې کوټې ترڅنګ نغري ته کېناسته، اور یې بل کړ او بیا مخ په قبلې ودرېده او لاسونه یې لپه کړل:(( خدایه ! راپېښې کړې، هغه ظالم دې ټول عمر په زندان کې وي، که راخوشې شي، مور به درې واړه له تېغه تېر کړي. ))
له دې سره اوتره شوه، خو ژر په ځان کابو شوه: (( نه، نه ! هغه به تل په زندان کې وي، اوس خو زموږ مشر داسې کسانو ته په غوسه دی، هغه نه پرېږدي، نه یې خوشې کوي. ))
دې فکر یو څه زړه ورکړ، چای یې دم کړ او کوټې ته ننوته. زرګل خپل ځادر په ولو کړ، خو ژر یې بېرته خطا کړ او پر دېوال تکیه شو. شېبه په شېبه پریشانۍ پسې اخیسته. د زرګل له دې حالت سره سیما وارخطا شوه: (( څه شوي؟ څه خبره ده، له پرونه ساز نه ښکارې؟ ))
زرګل، څو ځلې خوله جوړه کړه، چې څه ووایي، خو ژر به پښېمانه شو. لښته هم د هغه تر څنګ کېناستله: (( پلار جانه ! څه خبره ده، ولې دومره پرېشانه یې؟ ))
خو هغه هیڅ هم نه ویل. لښتې او مور یې څو څو ځلې دا پوښتنه تکرار کړه، خو بیا هم هغه څه ونه ویل. سبا سهار، چې له خوبه پاڅېدل، سیما هغه راکلک کړ: (( زړه مې چوي، ولې پرېشانه یې، څه خبره ده، څه شوي، ولې څه نه وایې؟ ))

ketabton.com - The Digital Library



هغه تر ډېر ځنډ وروسته، خپله چوپتیا ماته کړه: ((دې ته حیران یمه، چې اوس به چېرته لاړ شو.))
سیما په بېړه وپوښتل: ((ولې، څه شوي، چې له دې ځایه ولاړ شو؟))
هغه یو سوړ اسویلی وکېښ: ((لکه، چې دعاګانې مو بې اثره وې؟))
ـ دا څه وایې، صفا خبره وکړه.
د هغه سترګې اوښلنې شوې: ((پرون په بازار کې خلکو ویل، چې قوماندان د رئیس جمهور په فرمان خوشې شوی.))
۱۳۸۷/۲/۱۸

ketabton.com - The Digital Library



# هغه لاندې کښېنوئ !

مازیګر څلور بجې وې، له ډېرو مخابرو او ټلفونونو ستړی شوی وم، غوښتل مې یو څه د وخته کور ته لاړ شم، چې مخصوص ټلفون وشرنګېد ، غوږۍ مې جګه کړه:

- السلام علیکم.

- وعلیکم السلام

- امر وکړئ !

- ګل خانه ! ته یې؟

- هو ، صاحب زه یم.

- هلکه ! ګوره ! د حاجي استاد په نوم یو څوک درځي، هغه لاندې کښېنوه ! زه هم دا دی در روان یم.

- ښه صاحب.

په منډه_منډه له دریم منزل نه راکښته شوم او قراول ته مې ځان ورساوه، لس دقیقې وروسته یو لوکس، غوښن او سپین چکی سړی،

ketabton.com - The Digital Library



چې یوه زینتي امسا یې په لاس کې وه له ټکسي موټر نه راښکته او ورو ــ ورو زموږ خواته رانژدې شو ، بې واره مې ترې وپوښتل: (( حاجي استاد خو نه یې؟ ))
- هماغه یم
زه ترې مخکې شوم او ورته و مې ویل: (( ما پسې راځه ! ))
سړي ښه ــ ښه وویل او ورو ــ ورو راپسې را روان شو.
په لار کې مې له ځان سره ویل: ((دې خوارکي به څه کړي وي، بد سړی خو نه ښکاري، خو ساده ځکه دی، چې پخپله ځان د بلا خولې ته ورکوي. ))
شا ته مې وکتل، هغه ډېر کرار ــ کرار قدمونه اخیستل او داسې ډاډه ښکارېده لکه، چې کومې په زړه پورې مېلمستیا ته راغلی وي.
څو ګامه وروسته مې بیا شا ته وکتل، هغه راپسې ورو ورو رارووان و او په ځېر ــ ځېر یې شاوخوا چمن او دفترونو ته کتل.
ما ته داسې را معلوم شول لکه د چمن ګلانو ، چې خوند ورکړی او غواړي سیل یې وکړي، زړه مې ورته ډېر تنګ شو: ((دا څه ! کوې، راچټک شه، پر ما ناوخته کېږي، کور ته روان یم. ))
هغه سر وخوځاوه او لږ چټک ګامونه یې را واخستل، دواړه د تحقیق څانګې ته ننوتو ، د تحقیق مشر ته مې وویل: مشر صاحب په ټلفون کې امر وکړ، چې دا سړی لاندې کېنوئ !

ketabton.com - The Digital Library



د تحقيق مشر د هغه د مکمل شهرت تر اخيستو وروسته خپل مرستيال ته امر وکړ، چې هغه په لومړي نمبر کوټه کې بند کړي.
حاجي استاد، چې د بند او کوټې خبره واورېده، ټنډه يې ګونځې ګونځې شوه او په قهر او وارخطايي يې وويل: ((دا څه وايا ست، ولې مې بندي کوئ، څه خبره ده!؟))
هغه غوښتل نور هم څه ووايي خو د تحقيق مشر پرې برګ شو: ((ډېر مه غږېږه، پاڅه او زما له ملګري سره لاړ شه، که نه بيا به دې خوښ شم.))
مرستيال هغه له مټه ونيو او په کوټه کې يې واچاوه. کله چې يې ور ورپسې بند کړ، زه نيغ د خپلې شعبې خوا ته وخوځېدم. په لومړي منزل کې د ادارې د مشر يو تن ساتونکی مې وليد، چې د مقام د دفتر له دروازې سره ولاړ دی، ترې ومې پوښتل: ((مشر صاحب خو به نه وي راغلی؟))
هغه لنډ ځواب راکړ: ((نه!))
له ساتونکي سره مې مخه ښه وکړه او خپل دفتر ته لاړم، مخابرې او ټلفونونه مې سره منظم کړل او بې له دې، چې راتلونکي نوکریوال ته تم شم شعبه مې کولپ کړه او په بېړه کور ته روان شوم.
تياره ماښام و، چې د کور ور وټکېد، ووتم. ور، چې مې پرانيست، زمونږ د کار ځای دوه تنه ساتونکو له وتو سره سم له مټه ونيولم او په ډېره غوسه يې د موټر خوا ته کش کړم، يوه تن يې وويل: ((رئيس صاحب عاجل غوښتی يې.))

ketabton.com - The Digital Library



ـ څه؟ رئیس صاحب غوښتی یم؟ ولې، خیریت خو به وي؟
دغو ساتونکو که څه هم په اداره کې راسره ډېره ښه وضع کوله خو دغه شېبه يې لکه، چې هغه هرڅه هېر کړي وي، په غوسه شول: ((ډېر مه غړېږه، موټر ته وخېژه، ناوخته دی!))
-زور مه کوه، مټ دې راخوږ کړ، پخپله خېژم، خو دومره ودرېږئ، چې کور ته احوال ورکړم. په ډېرو زاريو مې ساتونکي مجبور کړل، چې کور ته ننوځم. کور کې مې احوال پرېښود او له ساتونکو سره رياست ته ورغلم، کله چې د رئيس صاحب دفتر ته ننوتو، هغه زما په ليدو په ډېره غوسه ساتونکو ته وويل: ((دا بې ادبه عاجل لاندې کېنوئ، زه به بيا وروسته ورسره حساب کتاب کوم.))
په وتو ـ وتو، کې مې يو نظر حاجي استاد وليد، چې په بر سر کې ناست دی او مخې ته يې رنګارنګ خواړه او مېوې کتار ايښي دي.
ساتونکو، چې له دفتره راوويستم، د حاجي استاد غږ مې واورېد، چې رئيس ته يې وويل: ((خير دی، څه يې...))
د تحقيق شعبې ته ننوتو د تحقيق مشر، چې ډېر خپه او غوسه ښکارېده، مخامخ راته ودرېد او ويې ويل: ((رښتيا چې ګنګس الله خان يې، څوک همداسې کوي، موږ دې په مشر باندې بې ابه کړو.))
ما ورته وويل: ((ولې؟ څه خبره ده؟ څه مې کړي؟...))

ketabton.com - The Digital Library



ما خپلې خولې پاکولې، چې د تحقیق مشر وغرېد: (( دغه دی، څه مې کړي؟ نور به څه کوې؟ یو معزز سړی د رئیس صاحب استاد، حاجي استاد دې بې ابه کړ، لا وایې، چې څه مې کړي؟ ))
- ولې؟ نو په دې کې زما څه ګناه ده؟ رئیس صاحب پخپله امر وکړ، چې لاندې یې کېنوئ.
- رئیس صاحب خپله شعبه در ښولې وه، نه لومړی لمبر کوټه.
- زه نو، څه پوهېدم؟ هغه خو تل ((لاندې)) کلمه نظارتخانې ته کاروله.
- ډېر مه غږېږه، که نه د رئیس صاحب د قهر کوفت له تا وباسم.
له دې خبرو سره د تحقیق مشر خپل ساتونکي ته وویل: (( هلکه، ژر شه، دا ګلی په لومړي لمبر کوټه کې بند که. ))
۱۳۷۷

ketabton.com - The Digital Library



# کوبای چوپان

غلام همدا چې د کمپنیو بازار ته راورسېد ، پسونه یې یو ګوښه ځای سره راپنډ کړل، لارویو ته یې مخ ورواړوو او په پرله پسې لوړ غږ یې وویل: (( یو پسه په درې زره، درې زره، یو... ))

د پسونو په لیدلو دم شېبه کې ګڼ لاروي له پسونو چار چاپېر ودرېدل او یوه لاروي، چې په پسونو پـه ډېر شـوق لاس تېراوه؛ وویـل: (( درې زره لږې زیاتې نه دي؟ که په دوه دوه زره یې راکړې، دوه درې به درځنې اخلم. ))

ـ که مجبوره نه وای، په اته زره مې هم نه خرڅول، لږ انصاف وکړه.

ـ خوښه دې، ما د خپلې وسې خبره وکړه.

غلام شاوخوا ته ځیر ځیر وکتـل او تـر لـږ سـوچ وروستـه یـې لاروي تـه وویل: (( په دوه زرې یـې پـه دې شـرط درکـوم، چـې ځلور پنځـه پسـونه یوځایې واخلې. ))

ketabton.com - The Digital Library



د غلام له دې خبرې سره دوه درې نورو لارویو هم غږ وکړ: (( چې دوه زرې يې راکړې موږ هم دوه دوه درځنې اخلو. ))
هغه لا نهه لس پسونه نه وو خرڅ کړي، چې دوو پولیسانو د خلکو له منځه د پسونو په خوا لاره وکړه. یو پولیس لومړی ښکته پورته غلام ته وکتل او بیا یې وویل: (( پسونه دې خپل دي؟ ))
غلام، چې په خوشالۍ د خرڅو شویو پسونو پیسې جېب ته کولې ځواب ورکړ: (( هو ! خپل مې دي، زما چې نه دي نو د چا دي؟ ))
بل پولیس پر یو څرب پسه لاس کېښود: (( دا په څو؟ ))
غلام، چې نوی ځیر شو، پېژندونکی پولیس دی، وویل: (( نورو ته دوه زره، ستاسو بیا، چې څومره خوښه وي. ))
پولیس په خندا شو: (( یو زر درکړم؟ ))
غلام خپلې لاړې تېرې کړې او په موسک انداز یې وویل: (( له تاسو چا پیسې غوښتې، څومره، چې راکوئ. ))
پولیسانو دوه زره افغانۍ هغه ته ورکړې او درې پسونه یې له ځانه سره مخکې کړل. یو پولیس په تګ تګ کې شاته وکتل: (( وارخطا کېږه مه، پاتې پیسې دې درته راوړم. ))

ketabton.com - The Digital Library



د پولیسانو له تلو سره غلام یو ځل بیا شاوخوا ته وکتل او په لوړ غږ یې وویل: (( یو پسه یو نیم زر... یو پسه یو نیم ...یو... ))
د غلام له دې خبرې سره پنځه شپږ کسانو له خپلو جیبونو پیسې راوکښلې او هر یوه، دوه دوه درې درې پسونه واخیستل. غلام هره شېبه د پولیسو لارې ته کتل. یو خریدار، چې نږدې ورسره ولاړ و، ورته وویل: (( دا بیا بیا څه شي ته ګورې؟ ))
هغه یو ځل بیا هغې لارې ته وکتل او ویې ویل: (( پولیسو لکه، چې پاتې پیسې وخوړې. ))
له دې خبرې سره یې پاتې شپږو پسونو ته وکتل او نارې یې کړې: (( هلئ واخلئ ! پنځه پنځه سوه. ))
د هغه له دې غږ سره هغه سړي، چې په دوه دوه زره پنځه پسونه اخیستي وو او هغه یې موټر ته خېژول، پرې غږ وکړ: (( هئ، کوبایه ! په ما دې ولې قیمت خرڅ کړل؟ ))
-تا خو هغه ښه یې واخیستل، دا پاتې خو ډنګر وکي...
هغه لا خپله خبره نه وه بشپړه کړې، چې یو چا یې له شا نه پر اوږه لاس کېښود: (( دا پسونه دې خپل دي؟ ))
غلام ځواب ورکړ: (( زما، چې نه دي نو ستا دي !؟ ))
خو همدا، چې یې شا ته وکتل او پر هغو دوو پولیسانو او د هغوی پر قوماندان یې سترګې ولګېدې، ژبه یې ونښته: (( هو...ه ...و... ه... و ... ص.. ص..صا...صاحب، دا .... دا مې خپل دي. ))

ketabton.com - The Digital Library



ـ ته په همدې کوبای پتلون، غاړکۍ، شینکاک بوټان او غوړ کاکل دا کار و بار کوې؟ ما خو تر اوسه کوبای چوپان نه و لیدلی.
ـ قس... قسم خورم، په والله چې... خپل مې ...دي، له مجبوریته یې... خرڅوم، مور مې... سخته ناروغه ده... دارو درمل یې... پرې کوم.
ـزما خو باور نه راځي.
ـ صاحب ! با...با... باور وکړئ، دروا غ...نه وایم، همدا پرون... تره مې له کلي ...راته ...رالېږلي دي.
د پولیسو قوماندان خلکو ته مخ واړاوه او ویې ویل: ((هر چا ، چې پسونه اخیستي، بیرته دې یې راوګرځوي، زما په ګمان دا د غلا مال دی. موږ په همدې شک په چپه لار راغلو ، چې حال معلوم کړو. ))

***

پولیسو ، غلام له ځان سره حوزې ته بوته. ماسپین مهال پولیسو له کمپنیو سره نږدې له یوې وچې څاه نه د یو دیارلس کلن شپانه مړی راوویست.

۱۳۸۳

ketabton.com - The Digital Library



# له ځانه سره جنګ

سرور خپل لاسي څراغ ولګاوه او ورور ورو تاکاوۍ ته ښکته شو. ټول شیان ګډوډ او یو پربل پراته وو. له وره سره نږدې یې سترګې پر یوه غټ کتاب ولګېدې؛ راوایې خیست، ګردونه یې ترې وڅنډل او ښه شېبه یې ورته په ځیر ځیر وکتل: ((ډېر وخت کېږي، چې درنه لرې پاتې یم، ما خو نه غوښتل، چې دا سې دې ګردونو ته پرېږدم، د ډاکتر کېدو ارمان به مې همدا سې په زړه کې پاتې شي... ))
کتاب یې خپلې سینې ته راجوخت کړ او څو پرله پسې ساړه ساړه اسویلي یې وکښل. هغه شېبه یې ور په زړه شوه، چې دوه درې کاله مخکې یې د کابل د طبي پوهنتون په لومړي ټولګي کې درس وایه او ډېر ځله به ټولګیوال ترې راتاو وو او ترې پوښتنې کولې.
سرور له خپل ځان سره لګیا شو: (( اوس اوبه له ورخه تېرې دي، هله ژر شه، شی راپیدا کړه، هسې نه چې وخت در نه تېر شي. ))

ketabton.com - The Digital Library



کتاب یې ببرته پر خپل ځای کېښود او په ځیر ځیر یې اخوا دېخوا وکتل. ټول شیان یې لټ په لټ کړل. له ډېر لټون وروسته یې د تاکاوۍ په بر ګوټ کې تر نورو شیانو لاندې، څه تر سترګو شول.
موسک شو، لاس یې وروړاندې کړ، په ډېر کړاو یې مارتول راوویست او له ځانه سره یې وویل: ((همدا یې چاره کوي. زه نه یم ملامت. د هغه خوله باید نوره وربنده کړم، نوره نو حوصله نه ده راپاتې...))
سرور مارتول پر اوږه کېښود او کرار کرار د وره خوا ته وخوځېد. د وره ترڅنګه یې بیا پر خپل کتاب سترګې ولګېدې. ښه شېبه بیا هم کتاب ته ځیر شو: ((ته خو ډاکتر کېدې، تا خو د نورو د سلامت او روغتیا لپاره درس وایه، نن څه وشول، چې مارتول پورته کوې؟ ها ووایه دا څه وشول، ها ووایه، ووایه؟))
پر سترګو یې تیاره راغله، ځای په ځای کېناست. مارتول یې یوې ډډې ته کېښود او پخپله پر دېوال تکیه شو: ((نه، نه! داسې نه کوم، دا قتل دی، زه اوس هم ورسره مینه لرم، خیر دی که لږ په زړه سخت دی. نه، نه! دا کار نه کوم.))
هغه څه شېبه غلی ناست و او پر مارتول یې سترګې ګنډلې وې. په هماغه چورتي حالت کې بیا له ځانه سره لګیا شو: ((څه!!! لږ په زړه سخت دی!؟ نه، نه! هغه جابر دی، پر جابر رحم کول ناروا ده، ناروا؛ نه یې پرېدم.))

ketabton.com - The Digital Library



دې سره رپندی شو، ودرېد؛ خو د وجود د ډېرې رپېدا له کبله یې خپل ځان کنټرول نه کړای شو او ډېر ژر بېرته کېناست. رنګ یې سور شو، سترګې یې سرې وا وښتې او له دې سره په ګډوډو لګیا شو: (( نه، نه ! د رحم وړ نه دی، پر چا رحم وکړم، پر هغه، چې مور یې را ته درست عمر په سره تبې کېنولې وه او پر دود وهلې چای یې یوه ورځ او شپه نهره ساتلې وه.))

سرور ته وریاد شول، چې پلار یې د هغه مور پر دې خبرې تر سختو وهلو ټکولو وروسته پر تود منقل کېنولې وه، چې ورته ویلې وو نور دې کور ته چرسیان او قماربازان نه راولې، سرور ته په یاد شول، چې له دې وهلو ټکولو څخه وروسته د هغه مور کې تر ماښامه ساه ورکړه: ((اخ، مورجانې ما وبښه. ما خو دا ګڼل، چې ستا زګېروي به اخر هغه مجبور کړي، چې تا روغتون ته بوځي. زه څه خبر وم؛ کاش، چې ما پخپله ډاکتر ته ببولې وې. اخ، مورجانې ! ما وبښه، ما وبښه.))

سرور په راوتلو سترګو لومړی مخامخ دېوال او بیا یې تر خپل څنګ ایښې مارتول ته وکتل. پر مارتول یې لاس راکش کړ: (( ښه یې ویلې: سزای قروت آب ګرم... څه ! دا څه وایې، پام چې داسې و نه کړې... ښه به شي... څنګه به ښه شي... رحم پرې په کار نه دی... پر چا رحم وکړم، هغه نه اصلاح کېږي، که کېدای زما د مور له مرګه پس به اصلاح کېده او ځوانه جانه خور به مې د هغه له لاسه د بل قمارباز لاس ته نه کېناسته او بیا به هسې سر په سارا کېده نه.))

ketabton.com - The Digital Library



سرور په ژړا شو ، خپل وښېنتان يې کلک په لاسونو کې ونيول او پرلـه پسې يې اسويلي وکښل: (( اخ خورجانې ! تـه چېرتـه يې ، تـه خبره يې ، چې ستا تر واده وروسته مشر ورور مو هم کور پرېښـود او تـر ننـه يې درک نـه شـته ، اوس مـا هـم کـور پـرې ايښـى او دوې وړې خوينـدې مـو درانه درانه کارونه کوي ، پلار ټوله ورځ بې غمه ويده وي. هغه يو دکان يې ، چې و هغه يې هم په قمار کې بايللى. ))

سرور خپل غاښونه وچيچل او بيا له ځانه سره بوخت شو: (( خورې ! ته پوهېږې ، چې همدا نن ، دا نن ، چې جمعه ده ، هغه بېغمه په خوب ويده دى او زمـوږ وړې موسـکا او رويـا د سـړک پـه سـر خلکـو تـه سـپېلني دودوي. کله ، چې زه له هغه ځايه تېرېدم ، هغوى مې مخې ته ودرېدې ، ويل يې ، چې سهار د وخته پلار له خوبه پاڅولې او په وهلو ډبولو يې بې سبناري سړک تـه ايسـتلې دي. خـورې تـه چېرتـه يې ، زمـا خبـرې اورې؟ ))

سرور خپلې اوښکې پاکې کړې ، مارتول يې راواخيست او راولاړ شو. لـه تاکـاوۍ نـه پـه وتـو بيـا پـه سـوچ کـې لاړ: (( نـه ، نـه ! داسې مـه کـوه ؛ هرڅه ، چې وي وړې ورسره خوندي دي. څه؟ وړې ورسره خوندي دي ، د څه خوندي دي ، هره شېبه وهل ټکول ، اوښکې او وينې ، نه ، نه ! نـه يـې پرېدم... نه داسې مه کوه ، بې رحمه کېږه مه ، ولې به بې رحمه نـه شـم ، ولې به داسې نه کوم ، که نه ، نن شپه به هغه بل ظلم کوي. ))

ketabton.com - The Digital Library



سرور وربرډ بد: (( موسکا جانې ! پلار څه درته ویلي وو ، چې که پرونۍ د سپندو ورکې شوې پیسې نن رانه وړئ بیا مو لکه مور په تود منقل کېنوي؟ نه، نه ! زه يې نه پرېږدم، تاسو غوسه مه کوئ، نن د دې غمونو سلسله ختموم. ))

هغه کرار کرار دروازې ته نږدې شو. دروازې ته په ورنږدې کېدو سره يې مارتول پر ځمکه خوشې کړ، ور يې بېرته کړ، چې ووځي خو ژر بېرته پښه نيولې شو: (( نه خورکيو ! مه وېرېږئ. هغه تاسې نه په عذابوي. ))

سرور خپل سر کلک ونيو: ((اوخو ما مه مجبوروئ که نه ! دومره ترې وېرېږئ، نه، نه ! بل چېرې مه ځئ. زه هغه نه پرېږدم، چې تاسې وځوروي، ومې ويل که نه ما مه مجبوروئ، چې ختم يې کړم، نه نه ! دا کار نه کوم، هغه مو نه وهي. څه ! دا مې څه ووې، نه يې وهي، ولې به يې نه وهي، ولې به يې پر تود منقل نه کېنوي، هغه خو ځو ځلې دا کار کړی، ولې خپله وړه وربېره يې، چې ډېر ژړل پر تود منقل نه وه سوځولې. نه، نه ! نه يې پرېږدم. ))

سرور په بېړه ځمکې ته ټيټ شو، مارتول يې راواخيست او په بېړه له تاکاوۍ نه بهر شو.

***

ketabton.com - The Digital Library



تېر مازیګر موسکا او رویا په نه زړه او وېره وېره کور ته راننوتې. رویا وویلې: (( نن خو بیا چا پیسې رانه کړې. پلار به مو بیا ووهي. راځه، چې بېرته لاړې شو. پیسې پیدا کړو. ))
موسکا ، چې په وېره وېره ورو ورو ګامونه اخیستل؛ کوټې ته ننوته. په کوټه کې د وینو او د خپل پلار د چغزي چغري شوي سر په لیدو یې چیغې کړې: (( پلار جانه ! چا ووژلې؟ ))
۱۳۸۲/۷/۸

ketabton.com - The Digital Library



# ایثار

همدا چې نثار له خپل مور او پلار نه جلا شو، په بېړه يې تر هغوی مخکې ځان عمومي سرک ته ورساوه. يو ټکسي موټر ته يې لاس ونيو او ډرېور ته يې وويل: (( د نوي ښار پارک ))
ډرېور په حيرانتيا ورته وکتل: ((نا بلده را ته ښکارې))
نثار پرې وربرګ شو: ((مطلب؟))
- ته چې ولاړ يې همدا د نوي ښار د پارک ساحه ده.
- اوه! ښښنه کوه، فکر مې نه و. ما وې ګڼې له خپل کور نه راوتلی يم. د رېيم مکروريان ته مې بوځه.
موټر د وزير اکبر خان مېنې پنځه لسم سرک ته رسېدلی و، چې نثار ډرېور ته وويل: (( که نه خپه کېږې بېرته مې پارک ته ورسوه.))
ډرېور موټر وګرځاوه او نثار يې په همهغه ځای کې ښکته کړ، چې څو شېبې مخکې يې پورته کړی و. نثار چې ښکته شو څو ګامه لا مخته نه

ketabton.com - The Digital Library



و تللی، چې پښه نیولی شو او په بېړه بېرته په شا راغی، په تګ تګ کې یې خپلو جېبونو ته لاس کړ او تر څو موټر ته رسېده یو پنځه سوه ګون یې د خپلې کرتۍ له ښي بغل جېبه رااوویست. همدا چې هغه یې ډرېور ته ورکړ، په چټکو ګامونو د پارک پر خوا رهي شو. ډرېور پرې غږ وکړ: ((وروره ! یو شېبه.))
نشار ودرېد: ((څه وایې؟ بیا خو مې څه سهوه نه ده کړې.))
ډرېور څه پیسې ورته ونیولې: ((هه ! ماتې پیسې دې واخله.))
نشار خپلې پیسې واخیستې، سر یې وخوراوه، یوه ترخه موسکا یې وکړه او بیا د پارک منځته ورغی، په تګ تګ کې له ځان سره لګیا شو: (( په کور کې به ډېر په تنګېدم، دلته ښه ده د ناهېدې دوی کور ته خو به نږدې یم. که تلفون وکړي، ژر به ورشم))
څو شېبې یې پارک ګز و پل کړ، شېبه په شېبه خولې پرې راماتېدې او چې لږ ستړی شو د پارک ختیځې برخې ته، چې څوک په کې نه ښکارېدل، ورغی. یو ګوښه ځای کېناست او له کېناستو سره سم یې د خپلې مور د څو شېبو مخکې خبرې په غوږو کې انګازې وکړې: ((زوی جانه ! نور نو ناهیده هېره کړه، نور نو د هغې د پلار سپکې سپورې نه شو اورېدلی.))
له دې خبرو سره د ناهېدې ږغونې غږ یې، چې له کور نه د دوی له وتلو سره سم له خپلې مور سره غږېده، تر غوږ شو: ((مور جانې ! تا خو تر دا نن سهاره را ته ویل، چې دا ځل نشار دوی نه نا امیده کوئ، اخر

ketabton.com - The Digital Library



ولې مو داسې وکړل؟ مور جانې ! پاکه يې درته وايم زه بغير له نثار نه بل چا سره واده نه کوم. ))
د نثار په شونډو يوه موسکا خوره شوه: ((ناهيد جانې ! چې ته زما په مينه ولاړه يې نو زه ولې زړه وخورم. ))
خو د موسکا دا څپه يې ډېر ژر له شونډو والوته او د ناهېدې د پلار غوسه يې ټول وجود ولړزاوه: ((بې شرمې، بې حيا ! ته دومره شوې، چې اوس زما په مخکې خبرې کوې، تراوسه خو مې څه درته نه ويل، وروسته له دې به درسره وګورم، که بيا مې دا خلک دلته وليدل، زه به ستا او د هغوی خوښ شم. ته هغوی وګوره او مور. ما چې له چا سره لوظ کړی، هغه ته دې خامخا ورکوم، څه فرق کوي، چې همزولې مې دی او بله ښځه لري. شتمن دی شتمن. ))
د مبايل زنګ يې د سوچونو لړۍ وشلوله، د موبايل د صفحې پر مخ د ناهيدې عکس ښکاره شو. په بېړه يې موبايل غوږ ته کړ او په ډېرې خوشالۍ يې وويل: ((ها ، وايه، ناهيد جانې، ما هم همدا اوس غوښتل در ته زنګ ووهم،... څه مور جانې ته يې، ناهيده چېرې؟... مورجانې ! زه ناهيده نه شم هېرولی،... څه هغه يې ووهله، کوټه کې يې بنده کړې، تا هيڅ و نه کړ؟ ...څه ته يې هم ووهلې... څه ...نه...نه ! ته موبايل ناهېدې ته وبسه، زه نه غواړم، چې ناهيده له لاسه ورکړم... هله ژر شه مبايل يوسه. ))
ډېره شېبه وروسته نثار په مبايل کې په خبرو لګيا شو: ((نه، نه، داسې به نه کوې، زما پخاطر، پخپلې مينې دې قسم، خير دی پلار به دې په

ketabton.com - The Digital Library



غوسه و، ګوره زما خبره واوره، بس دا دی درغلم... څه پلار دې راغی.
بلې بلې، اوف موبایل دې ولې بند کړ؟))
نثار خپل موبایل پر ځمکه خطا کړ، له خپله ځایه راولاړ او د ناهېدې دوی د کور پر خوا په منډه شو. کوڅې ته چې ور ننوت، له لرې نه یې ولیدل، چې د ناهېدې پلار خپل لاسونه مروړي او د خپل کور تر مخه لروبر کېږي.
لومړی د هغه په لیدو پښه نیولی شو، خو تر لنډ سوچ وروسته وخوځېد. د کوڅې تر نیمايي نه و رسېدلی، چې د ناهېدې وړوکی ورور یې مخته ودرېد: ((کاکا، کاکا! مور مې ویل، چې رانه شې، پلار مې ستا پخاطر د کور مخې ته ولاړ دی.))
ده لکه، چې د ناهېدې د ورور خبره نه وي اورېدلې، د هغوی د کور په خوا رهي شو. دوه ګامه یې لا نه وو اخیستي، چې هلکي بیا پرې غږ وکړ: ((کاکا! خور مې هم ویل، چې را نه شې.))
نثار ودرېد: ((ناهېدې ویل؟))
ـ هو!
نثار بېرته وګرځېد او په تګ تګ کې یې خپل جېبونه وپلټل او له ځانه سره یې وویل: ((اوه خدایه! موبایل خو ما هلته ګوزار کړ.))
له دې خبرې سره د پارک په لوري په منډه شو. د پارک ختیځې څنډې ته په رسېدو د خپل موبایل زنګ یې تر غوږ شو. تر څو یې ځان رساوه، زنګ قطع شو. موبایل یې را پورته کړ او څو ځلې یې د ناهېدې نومره

ketabton.com - The Digital Library



دایل کړه، خو رخ نه شو. همهغلته ځای په ځای کېناست: ((اوه خدایه څه وکړم! چاره څه ده، نور خو زه لېونی کېږم...))
د موبایل زنګ اوچت شو. ده په چټکۍ هغه غوږ ته کړ: ((سلام پلار جانه! نه، نه خیر و خېریت دی. همدلته نږدې یم. دا دی خوځېږم... کور ته، چې درغلم ټول حال درته وایم... خدای پامان.))
تېر ماښام د نثار موبایل ته زنګ راغی تر څو هغه له ځایه پاڅېده مور یې ټلفون، چې د الماری پر سر ایښی و راجګ کړ او په خندا یې وویل: ((ناهیده ده))
د ناهېدې د نامه له اورېدو سره نثار نېغ پر خپل ځای کېناست. موبایل یې چې غوږ ته کړ، ورو ورو خولې پرې راماتې شوې، رنګ یې والوت، لاسونه یې په رېږد بدو شول او بې خوده پر خپل ځای پرېوت. مور یې پرې اوبه وشیندلې او ډېره شېبه وروسته، چې په خود شو، په ژړا ژړا یې خپلې مور ته وویل: ((د ناهېدې پلار درواغ وایي، ما ناهیده نه ده وژلې، ما ورسره مینه کړې، مور جانې زه قاتل نه یم، ما ناهیده نه ده وژلې.))
د شپې نا وخته یې سترګې سره ورغلې: ((نثار جانه! ما همدومره کولی شول، نور مې څه له وسه نه و پوره.))

***

نیمه شپه د نثار مور او پلار د سوې غوښې په بوی له خوبه راپاڅېدل.
۱۳۸۲

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



# په وینو سور ګل

هو سی نن ډېره ستړې ښکارېده، سم کار یې نه شوی کولای، له ماسپښینه تر مازیګره ایله نیم پنډ اغزي یې راټول کړي وو، زړه نازړه یې په لور باندې اغزي له بېخه را ایستل. یو بوټی به یې، چې راوویست لس، پنځه لس دقیقې به یې دمه جوړوله.

لمر په غرغړو و، چې دې خپل پنډ وتاړه او هغه یې سپک راپورته کړ، یو دوه ګامه یې لا نه وو اخیستي، چې پنډ یې درز په ځمکه وغورځاوه او له ځانه سره یې وویل: ((نه، نه! دا خو ډېر کم دي، وریندار به بیا راته غوسه کېږي.))

پنډ یې بېرته خلاص کړ او په بېړه بېړه د اغزو په راویستلو لګیا شوه. د اغزو د یوه غټ بوټي په راویستلو یې په لاسونو کې اغزي ننوتل او دواړه لاسونه یې په وینو سره شول. خپل لاسونه یې په خپله لمن پاک کړل، خو دم شېبه کې د لاسونو له ډېر سوختنه په ژړا شوه. ښه شېبه یې

ketabton.com - The Digital Library



غلې غلې وژړل او وار له واره يې خپل په وينو ککړو لاسونو ته کتل. په همدې کې يې د ځادر د پېڅکې غوټې ته نظر شو، هغه يې په موټي کې کلکه ونيوه او تر څه سوچ وروسته يې وويل: (( نه، نه ! دا مې هسې وپيرل، خير دی هرڅه چې کېږي، کېږي به، قسمت به مو همدا سې وي. نه، نه ! دا سې نه کوم... ښه کار نه دی، مور به مې چاته پرېږدم. ))
غوښتل يې غوټه پرانيزي خو ژر پښيمانه شوه: (( نه، نه ! نه يې خطا کوم. يوه ورځ به مې په کار راشي. ))
په همدې سوچونو کې يې هغه شپې وريادې شوې، چې ورور يې د ورينداري په خبره څو ځلې پزه او خوله ورته وينې وينې کړې وې. کله چې به ډېر په غوسه و او د دې په وهلو يې خوا سړه نه شوه، په شپو شپو يې نهره ساتله او په يوه تياره کوټه کې به يې بندوله. هغې ته ور ياد شول، چې مياشت دمخه جبار د پښو په تلو داسې بد بد په شنو لښتو ووهله، چې بيا ډېر وخت له ډېره درده په لاره نه شوای تلی. د دې شيبو په يادېدو سره يې په يوې ترخې موسکا غوټه لا نوره پسې کلکه کړه. په وروستي ځل يې، چې بيا خپلو لاسونو ته وکتل او هغه يې خپلو سترګو نږدې ونيول، له ځانه سره يې وويل: (( پلاره تا همدې ورځې ته يوازې پرېښودمه، تا خو ويل، چې ما به لکه ګل داسې ساتې، راځه خپل ګل وګوره، په وينو سور ګل. ))
هوسۍ په ژړا سر شوه: (( پلاره ! زه هره شپه په ژړا ويده کېږم، څوک نشته، چې دلاسا مې کړي، اوس مې مور هم په ما منت کوي. دا خير؛

ketabton.com - The Digital Library



خو کاشکې یې، چې له مکتبه نه ویستمه، اوس به په اووم صنف کې ومه. زه چاته وژاړم، پلاره، زه چاته وژاړم. ))
هوسۍ خپل سر په خپلو زنګنو کېښود او له لرې شیبې چوپتیا وروسته، لکه چې څه ور یاد شوي وي، بیا له ځانه سره لګیا شوه: (( نه دا مې څه وویل! مورکۍ مې نه ده ملامته، هغه رښتیا وایي، که د دوی خدمت ونه کړو، له کوره به مو وشړي. ))
له دې خبرو سره هوسۍ لور ته لاس کړ، په بېړه له ځایه پاڅېده او د اغزو په راټولولو بوخته شوه. په دم شیبه کې یې سره له دې، چې لاسونه یې په سوخت کې وو، د نورو ورځو په پرتله یې تر یو پنډ زیات اغزي راټول کړل او کرار کرار له دښتې د کور په خوا رهي شوه.
پنډ یې ډېر درونـد و او دا یې ترلاندې کـړه وړه روانـه وه، خو دېتـه خوشاله وه، چې نن یې ډېر اغزي راټول کړي. نورې ورځې به یې په لاره کې دوه درې وارې دمه کوله، خو نن یې بې له دمې کور ته ځان ورساوه.
دروازې تـه پـه نـږدې کېدو سره یې پـه زړه کې ګوړې ماتې کـړې: (( وربنداره به مې د پنډ په لیدلو ډېره خوشاله شي او خوږ چای به راکړي. ))
هوسۍ دروازه پرانستله. پـه ډېـر زور یـې پنـډ خطا کـړ او خپلې وربندارې ته یې، چې د سوپې پر سر ناسته وه او چای یې څښنه، وویل: (( وریندارې! نن مې ډېر اغزي راوړي، ډېره یې ستړې کړې یم. لږ خوږ چای راکړه. ))

ketabton.com - The Digital Library



هوسۍ په همدې خبرو خبرو کې کرار کرار سوپې ته وختله او غوښتل یې د خپلې ورینداري ترڅنګ پر توشکه کینې، چې هغې پرې برچ وهل: (( کم بختې ! لاندې کېنه، توشکه مرداروې، ټوله په خاورو ککړه یې. ))

هوسۍ غلې غلې له توشکې رابښویه شوه او په عذر یې وویل: (( خیر دی ورینداري لږ خوږ چای، ډېره ستړې یم. ))

وریندارې یې توشکه خپل ځانته کش کړه او په غوسه یې وویل: (( دا ده د خان زاده لور، دوه بوټي اغزي یې نه دي راوړي او خوږ چای غواړي. ))

د ورینداري په دې خبرې، په لوړ غږ یې وویل: (( خوله دې نیسه ! په پلار به مې نه لګېږې، هرڅه چې وایې ما ته وایه. ))

وریندار یې له ځایه پاڅېده، دا یې له لاسه ونیوه او له ځانه سره یې راجګه کړه: (( ځه، ځه ! غوجله پاکه کړه، مور دې هسې بلا وهلې، ناروغي بانه کوي، یو دیګ پخولو باندې ساعتونه تېروي. ))

هوسۍ ته غوسه ورغله او په دومره زور یې خپل لاس راکش کړ، چې که وریندار یې ځان نه وای راټینګ کړی، له سوپې لاندې رالوېده.

- مردارې، بدسترګې، چې ورور بدمخی دې راشي زه به ستاسې چاره پرې وکړم، نوره مو یوه شیبه هم په دې کور کې نه پرېږدم.

ketabton.com - The Digital Library



د هغوی په شورماشور د هوسۍ مور، چې سر یې په دستمال تړلی و، په ډېره خوارۍ، چې نږدې وه راولوېږي، له کوټې راووته: (( څه خبره ده؟ څه شوي؟ شور مه کوئ. ))

هوسۍ د هغې په خوا ورمنډه کړه او په غېږ کې یې ونیوه. خو مخکې له دې، چې هوسۍ څه ووایي، ورینداره یې وغړمبیده: (( بدسترګې دې له لاسه کش کړم، نږدې له سوپې لاندې غورځېدلې وم، بدبختې خاني کوي، رانه چای غواړي. ))

مور هوسۍ په مخ په څپېړو ووهله: (( بدبختې... هه... هه خپل...هه...هه حد نه پېژني... که بیا دې... داسې وکړل... هه...هه پخپلو... هه...لاسو دې... له...دنیا... تې... ره...ومه. ))

د مور په دې خبرو هوسۍ په منډه کوټې ته ننوته او تر ماسخوتنه پورې یې مور خپلې نږور ته زارۍ کولې، چې خاوند ته څه ونه وایي. ماسختن همدا، چې د هوسۍ ورور راغی، ښځې یې په ژړا وویل: (( جباره څو ځلې مې درته وویل، چې مور او خور دې اصلاح کړه، د ساتلو نه دي، خدای به نه غوښته که نه، نن دې خور د ګور مېلمنه کړې وم. ))

جبار بد خپلې مور ته وکتل او بیا یې چیغې کړې: (( هوسۍ چېرې یې، والله که نور د ژوند څکه رانه وکړې، بد سترګې، اوس دومره شوې، چې پخپلې وریندار لاس اوچتوې. ))

جبار په منډه هغې کوټې ته ورمنډه کړه، چې هوسۍ په کې ویده وه. همدا چې کوټې ته ننووت، مور یې د هغه پښو ته ځان وغورځاوه: ((

ketabton.com - The Digital Library



زویه !... خیر... دی. کم... هه ...هه... عقله ده، کار مه... پرې لره، ما ...ډېره ووهله، خیر دی.. زه به یې... وپوهومه، خیر... ))

جبار د خپلې مور خبرې پرې کړې: ((که پوهوله دې، تراوسه به دې ملا کړې وه، نور نه کېږي، اوس به زه د اسې سبق ورکړم، چې بیا خپلې وریندار ته بر هم ونه ګوري. ))

جبار خپله مور ټیل ووهله، هوسۍ یې له وېښتو راونیوله او له ځایه یې راجګه کړه خو، چې کتل یې په هوسۍ کې دمه نه وه او له خولې یې ځګونه روان وو.

۱۳۷۳

ketabton.com - The Digital Library



# د سرطان کیسه

واده ته د یوې اوونۍ په پاتې کېدو زیبا ورځ په ورځ خپله تازه ګي له لاسه ورکوله. له واده نه یوه ورځ مخکې هغه سخته ناروغه شوه او کورنۍ یې سهار له ملا اذان سره هغه روغتون ته بوتله. روغتون ته په رسېدو، بې هوښه شوه. ماښام مهال و، چې یو څه په خود شوه، اخوا دېخوا ته یې اوتر او تر وکتل، همدا چې پر خپل نامزاد یې سترګې ولګېدې، غریو جنه شوه، په بېړه یې سترګې بلې خوا ته واړولې او په دم شېبه کې سخته تبه پرې راغله.

د هغې معالج ډاکتر، چې دا شېبه د هغې د خپلوانو تر منځ ولاړ و، د هغې خپلوانو ته وویل، چې زیبا له خپلې مور سره یوازې پرېږدي. له روغتون څخه د زیبا د خپلوانو په وتو سره، ډاکتر هغې ته څه درمل ورکړل او له کوټې نه په وتو وتو کې یې د هغې مور ته وویل: (( درمل کرار کرار پرې خوب راولي، چې وارخطا نه شې. ))

ketabton.com - The Digital Library



څو شیبې وروسته زیبا ، په هماغه بې خودۍ کې په ژړا شوه او په ژړا ژړا کې یې وویل: (( ما خو ته داسې نه ګڼلې، اخر څوک همداسې کوي؟ ))

د هغې مور وارخطا شوه او پرې غږ وکړ: (( لورې !دا ته څه وایې، ما څه کړي، ته ولې ما نه خپه یې؟ ))

ـ څه؟ ته لا خپله پړه هم نه منې،ما داسې نه ګڼلې. ))

مور یې په ژړا شوه او هغه یې په وچولي ښکل کړه: (( لور جانې دا ته څه وایې؟ کومه پړه؟ ما څه کړي، د خدای پخاطر، لورې دا ته څه وایې؟ ))

ـ نه !نه یې درسره منم، ته خو پخوا داسې نه وې، دا یو دم ولې داسې شوې، تا خو زما سترګو کې اوښکې نه شوی نه لیدای، دا اوس څنګه زما د اوښکو په تماشه یې، ولې نه منې، چې ملامتي ستا په غاړه ده.

ـ لور جانې !د خدای خاطر وکه ، ووایه ما څه کړي، چې زه ملامته یم؛ ما خو څه نه دي کړي، دا ته څه وایې؟

ـ ښه چې نه یې منې، مه یې منه، زما له ناروغۍ دې، چې اوربدلي لرې لرې ګرځې.

ـ لورجانې !دا څه وایې، خدای دې ستا بد خواهان مړه کړي، منم !هر څه چې وایې منم، خو د مرګ خبره، چې بیا و نه کړې، ستا له مرګ سره خو به زه هم مړه شم، بې له تا نه نور موږ څوک لرو ، ما خو د ځان پخاطر، چې یوازې پاتې نه شم، مېړه ته هم نه ورکولې، د نصیب

ketabton.com - The Digital Library



کارونه وو، چې زه راضي شومه، چې... د زېبا مور یو دم غلې شوه او ژر یې و پوښتل: (( څه دې وې، چا تـه دې وې، دا څه دې ووې، څوک ښیې، وئ خدایه خاورې مې په سر شوې، دا نجلۍ څه وایي؟ ))

ـ چا ته وایم، خو تا ته وایم. ډېر بې غوره یې، ته هم ځان ته مئین وایې، ته هم وایې، چې عاشق یمه، مینه او عاشقي همداسې وي. نه نه ! نور زما او ستا تر منځه هیڅ هم نشته، ښه شوه، چې ژر مې و پېژندې، پام چې نور زما نوم وانه خلې.

د زېبا مور په زوره زوره وژړل. د هغې له ژړا سره ډاکټر خونې ته راننوت: ((سویلۍ ترور ! خیر دې وي ولې ژاړې؟ ))

سویلۍ په ژړا زېبا ته ګوته ونیوله: (( غوږ شه، چې دا زما بد بخته څه نه وایي. ))

ډاکتر زېبا ته ورنږدې شو، زېبا هغسې لګیا وه: (( شابه ډېر د وخته راغلې ! ! !... کاشکې سبا راغلی وې... خیر مینه درسره لرم، که نه ته خو د ښنلو نه یې... څه ! ناروغ یې ... څه درباندې شوي؟ سرطان یې... نه، نه ! ته دروغ وایې... ))

د زېبا له دې خبرو سره مور یې بې خوده شوه. ډاکتر په بله خونه کې د هغې د بستري کولو بند وبست وکړ. کله چې په هوښ راغله، ډاکتر ورته وویل: (( تروري ! ولې څه کیسه وه، سبا که زه نورو ته ستا کیسه وکړم، خومره به وخاندي. ))

ketabton.com - The Digital Library



د زېبا مور ورته بد بد وکتل: (( دا ښه شوه، دا خو زموږ د عزت خبره ده، تا نه اورېدل، چې هغې څه نه ویل، که دا سې وشي موږ خو به له شرمه مړه شوو. ))

ډاکتر وخندل: (( ترورې ! ته مې، چې دلته بستر کړې، زیبا را وینښه شوه، ستا کیسه مې ورته وکړه، خواره هم شرمېده او هم یې په کټ کټ خندل، خو خدای دې خیر پېښوي. ))

د ډاکتر له دې خبرې سره د زېبا مور نېغه پر خپل ځای کېناسته: (( څه دې وویل؟ خدای دې خیر پېښوي، ولې !؟ ))

ډاکتر په خندا شو: (( هیڅ نه، غوښتل مې یو څه، و مې ویل بل څه. ))

ډاکتر ته لکه، چې څه ورپه یاد شوي وي؛ تر لنډې چوپتیا وروسته یې وویل: (( هو رښتیا ! ستاسې لور کیسې لیکي، هغه دا څه موده پر یوې کیسې کار کوي. د هغې کیسې موضوع همدا سې یو څه ده. ستاسې لور نام خدا ډېره ښه لیکواله ده، کاشکې پر هغې باندې مو پوره زده کړې کړې وای. خو ګوره خاوند ته یې وو ایه، چې زده کړو ته یې پرېږدي. ))

ډاکتر تر څه چوپتیا وروسته وویل: (( جالبه دا ده، چې هغه په بې هوښۍ کې هم پر خپلې کیسې کار کاوه. ))

د زېبا مور یو څه چورتي غوندې شوه او له ډېر سوچ نه وروسته یې وویل: (( دا سهي ! خو هغه بله خبره دې هېره شوه، هغه اول چې دې وکړه، هغه د خیر ... ))

ketabton.com - The Digital Library



ډاکتر یو سوړ اسویلی وکیښ: ((په معاینـاتو کې یې یـو څه د سرطان خطر... ))

د زیبا مور یوه اوچته کریکه وکړه. د هغې له کریکې څه شیبه وروسته زیبا په منډه او په خندا خندا کوټې ته راننوته او د ډاکتـر پـه لیـدو یې وویل: (( ډاکتر صاحب ! ډاکتر صاحب ! هغه کیسه مې بشپړه کړه، هغه د سرطان کیسه. ))

۱۳۷۸

ketabton.com - The Digital Library



# وروستۍ دوکه

شيبا يو ساعت مخکې ډېره خوشاله له ښوونځي ووته. خپل ساعت ته يې وکتل او بيا په چټکو ګامونو په لاره پلې شوه. خوشالي يې شېبه په شېبه زياتېدله او لا نور يې هم خپل ګامونه ګړندي کول. تر يو ځايه پورې، چې راورسېده، له ځانه سره يې وويل: ((زه هم عجيبه لېونۍ يم، خو په موټر کې به راتلم، هسې ځان ستړی کوم.))
هغې شا ته وکتل او بيا ځای پرځای د سړک پرغاړه ودرېده، چې کوم موټر ته لاس ونيسي، خو دم شېبه خيالولې شوه: ((نه ! ولې ببړه وکړم، پرېږده، چې لږ وځورېږي، دومره وخت ما ورته انتظار وکړ اوس يو څو شېبې دې دی سخته تېره کړي.))
په همدې سوچونو کې بيا پلې وخوځېده.
هغې ايله يو کال وروسته له حامد سره کتل. نن سهار هغه ورسره په موبايل کې خبرې کړې وې او ترې غوښتې وو، چې مازيګر وزير اکبرخان پارک ته ځان ورسوي، شيبا له هغه سره په موبايل کې تر

ketabton.com - The Digital Library



خبرو وروسته په بيړه له کوره وتې وه او خپل موبايل يې په کور کې هېر کړی و او اوس يې ارمان کاوه، چې کاشکې يې موبايل ورسره وای او اوس يې په تګ تګ کې له حامد سره خبرې کړې وای. هغې وار په وار شکرونه ايستل، چې خپل ورک يې پيدا کړی دی، خو له دې خيالونو سره يوځل فکرمنه شوه او له ځان سره يې وويل: (( د حامد دوی، چې کور دلته نه شته ))

خو ژر يې فکر بدل شو، کېدلی شي له خپلې کورنۍ سره راغلی وي، دې فکرونو پسې واخيسته او له ځان سره لګيا شوه: ((هغه ولې دومره ناوخته وعده راسره کېښوده، هسې نه د شپې مې ايساره کړي، زه خو يې له خبرې هم نه شم تېرېدای. ))

له دې فکر سره هغې ته وریاد شول، چې څو کاله مخکې يوه شپه يې حامد خپل کور ته بللی و او هغه تر نيمې شپې ورسره و او دواړو د مينې خبرې سره کولې. په همدې فکرونو کې شيبا په ننبه شوي ځای ته ورسېده، خپل ساعت ته يې وکتل، پوره په وخت رارسېدلې وه، شاوخوا ته يې نظر وکړ، خو حامد يې په نظر رانغی، پريشانه شوه، اوتر اوتر يې هاخوا دېخوا وکتل. څو شيبې وروسته يو لوکس موټر د هغې ترڅنګ بريک ونيو او د موټر له منځه پرې غږ وشو: (( راځه راپورته شه. ))

غږ يې وپېژانده، حامد و، موټر ته وختله او نږدې وه، چې له ډېرې خوشالۍ حامد ته غاړه وځي، خو له ډربور نه حيا ورغله. موټر

ketabton.com - The Digital Library



ترمابنامه په ښار کې هاخوا دیخوا تاو راتاو شو. تېر مابنام موټر د یوه کور مخې ته، چې نه معلومېده کوم ځای دی ودرېد. کله، چې له موټر نه راکښته شول، حامدور ته وویل: (( دا زموږ کور دی، ځه چې د ننه لاړ شو. ))
شیبا ، چې د مابنام خرې وارخطا کړې وه، بې له ځنډه یې وویل: (( حامد جانه ! نه مننه، نن نه شم کولای، سبا سهار به درشم، اوس مې خپل کور ته ورسوه. ))
حامد په کټ کټ وخندل: (( لېونۍ ! څه دې وویل خپل کور ته !؟ دا کور لکه، چې درته پردی ښکاري، اصلي کور خو دې همدا دی، راځه راځه بیا به دې ورسوم. ))
د حامد له دې خبرې سره شیبا لاس په لاس ورسره کور ته ننوته، دننه په کور کې چوپه چوپتیا وه. اندېښمنه یې وپوښتل: (( دومره ناوخته، خو هم نه دی، چې موراو خویندې دې وېدې وي، هیڅ غږو غوږ یې نشته، ولې؟ ))
حامد په کړس کړس وخندل: (( لیونۍ ! ته خبره نه یې، چې هغوی نه دي راغلي، ځکه خو مې راوغوښتې، چې لږ په ازاده او خلاص زړه سره وغږېږو ، یاد به دې وي، چې تا یوه شپه خپل کور ته بللی وم او د خپلې وربنداري له وېرې، چې په بله کوټه کې له خپلو ماشومانو سره ویده وه، داسې ورو ورو غږېدې، چې ما دې هم غږ نه اورېده، نن شپه

ketabton.com - The Digital Library



ترسهاره په لوړ غږ غږېږه، هېڅوک به دې غږ نه اوري او له چا وېره به هم نه درځي.))

شیبا موسکۍ شوه او له حامد سره یوې کوټې ننوته، کوټې ته په ننوتو حامد له شیبا نه لاسونه تاو کړل او څو شیبې وروسته یې شیبا ته وویل: ((څنګه ده ما درته نه ویل، چې له چا به ویره هم نه درځي، څنګه بې پروا مې غېږې ته راغلې. هغه شپه دې یاد ېږي، چې ورېندار ه دې راباندې راغله او تا ورته عذرونه کول او پښو ته یې وغورځېدې، اوس هېڅوک نه شته، چې پښو ته یې ولوېږې.))

دوی لا په همدې خبرو کې وو، چې دروازه وټکیده او حامد بهر ووت. څو شیبې وروسته له خپلو څو تنو ملګرو سره د مېلمنو کوټې ته ننووت. کله چې بېرته راغی، شیبا ترې وپوښتل: ((دا څوک دي؟))

حامد بیا ترې لاسونه تاو کړل: ((دا مې ملګري دي، نن شپه زما مېلمانه دي، ما غوښتل، چې ستا د لاس پخلی وخوري.))

شیبا په ډېره مینه دیګ وکړ. کله چې خواړه تیار شول، حامد شیبا ته وویل: ((دا زما ډېر خواږه ملګري دي، دا سې ملګري، چې تر وروڼو هم ډېر راته ګران دي، هغوی غواړي تا وګوري راځه، چې ورشو.))

شیبا بې له دې، چې څه وو ایي له حامد سره د مېلمنو کوټې ته ننوته او تر روغبړ وروسته یې غوښتل له کوټې ووځي، چې له مېلمنو څخه یو تن پرې غږ وکړ: ((تاسې هم له موږ سره ډوډۍ وخورئ، خوشاله به شو.))

ketabton.com - The Digital Library



خو شیبا له کوټې ووته. څو شیبې وروسته حامد ورپسې راووت او ورته یې وویل: (( ملګري مې ډېر ټینګار کوي، راځه چې لاړ شو، دلته به څه یوازې کینې. ))
د حامد په ټینګار، شیبا د مېلمنو کوټې ته ورغله او په دسترخوان ورسره کښېناستله. همدا چې څو مړۍ وروسته یې یو ګیلاس اوبه وڅښلې، په څو شیبو کې سر پرې وڅرخېد او بیا ترسهاره په ځان پوهه نه شوه. سهار یې، چې کله په اوښلنو سترګو حامد ته وکتل، هغه په خندا ورته وویل: (( ډېره مننه، چې زما ست دې قبول کړ. زه نن ډېرته روان یم، بیا چې راغلم خبر درکوم، خو حیران یم، چې په کور کې به څه بانه کوې. ))
حامد لا خپلې خبرې نه وې بشپړې کړې، چې دې ورته وویل: (( تا سره په مینه کې ډېرې بهانې او دوکې مې له خپلې کورنۍ سره وکړې، خو ستا دوکه به څنګه شي، ستا دوکه؟ ))
حامد هغې ته یوه درنه څپېړه ورکړه او بیا یې وویل: (( ما خو څه دوکه نه ده درکړې، تا پخپله له ځانه سره دوکه کړې، هر څه دې له خپله لاسه کړي، ته راپسې شله وې. ))
شیبا په مات زړه د حامد له کوره ووتله. مازیګر مهال خپل کور ته ورسیدله. په کور کې ډېره ګڼه ګوڼه وه، خپل خپلوان یې ټول راغلي وو. کور ته، چې ننوتله مور یې ترې لاسونه تاو کړل: (( لورجانې! ته چېرته وې، زمونږ خو دې زړونه بوټ وویستل. ))

ketabton.com - The Digital Library



هغې د مور په غېږ کې ټول خپل خپلوان له نظره تېر کړل او بیا یې وویل: (( زه مې د خاله د نږور کره ومه ))
همدا چې هغې دا خبره وکړه، د خاله زوی او ښځه یې کور ته راننوتل. د هغوی په لېدو سر پرې وڅرخېد، پړمخې پر ځمکه پرېوته او خپله وروستۍ دوکه یې ونه شوای زغملای.

۱۳۸۳ اوړی

ketabton.com - The Digital Library



# اغېز

د لیني موټرو تم ځای ته نږدې ضمیر بیا ښنه نیولی شو او لمید ته یې، چې چټک چټک پر لاره روان و ؛ وویل: ((زړه راتـه وایـي، چې سم کـار مو نه دی کړی، راځه بېرته وګرځو.))

لمید پرې په غوسه شو: (( عجب ! بېرتـه وګرځـو ، زړه چې دې نـه و ، لـه اوله به دې ویلي وو ، اوس کار له کاره تېر دی. بیرته ګرځېدل مو ګټه نه لري. چټک شه، هسې نه نا وخته شي.))

ضمیر زړه نا زړه په لمیـد پسـې روان شـو. مـوټر تـه، چـې پـورتـه کېـدل، ضمیر بیا لمید ته وویل: ((که ته و پرېږې، ټوله ملامتي به زه ومنم.))

لمید هغه تر مټه ونیو او په زوره یې په ځان پسې موټر تـه وخېـژاوه. تـر سروبي پورې ضمیر غلی ناست و ، خو سروبي ته، چې ورسېدل، بیا پـه خبرو راغی: ((اوس خو راغلو ، خو دې تـه حیـران یـم، چـې هلتـه بـه څـه کوو. چېرته بـه ځـو ، د چا کـره بـه ځـو ، هلتـه خـو زمـوږ کـوم شـنـاخته هم نشته، څه به کوو؟))

ketabton.com - The Digital Library



لمید په خندا شو: ((عجب ساده یې، شناخته باندې څه کوې؟ رنګ یې ورک که، څه ته وتلي یو، چې بیا به پر خپلو ورځو. که کوم خپل ته ورشو هغوی به کور ته خبر ورکړي. له خپلو تېرېږه.))
سرخکانو ته نږدې موټر وران شو. له موټر نه په ښکته کېدو ضمیر، لمید ته مخ واړاوه خو مخکې له دې، چې دی څه ووایي، لمید ورته په غوسه وویل: ((چوپ! نور، چې څه و نه وایې، پخپلو پوده خبرو دې زما ماغزه وخوړل))
د موټر جوړول ډېر وخت ونیو، د ماښام خړه په لګېدو وه، چې کلینر ورغږ کړل: ((راځئ! چې ځو پخیر، موټر سم نه دی جوړ، کرار کرار به ورځو، ایله ما سختن ښار ته ورسېږو.))
موټر ته د روانېدو پر وخت ضمیر کرار کرار په ژړا شو. لمید هغه تر لاسه ونیو او په خندا یې وویل: ((ا ها! دا دی نارینه! څه وړوکی خو نه یې، دولس کلن هلک یې، پلار مې، چې کیسې کولې، یې، نهه کلن و، چې په روزي پسې له کوره وتی و، ته خو ترې دوه درې کاله لا مشر یې، بې غیرتي مه کوه، هله شابه، چې موټر حرکت ونه کړي.))
دواړه د موټر جنګلې ته وختل. جنګلې ته په ختلو ضمیر بیا په ژړا شو. لمید د هغه پر ولي لاس کېښود: ((اوس له کوره ډېر لرې راغلي یو، شرم دی، چې بېرته وګرځو، همزولي مو که خبر شي ډېر به راپورې وخاندي.))

ketabton.com - The Digital Library



ضمير په ژړا ژړا کې ورته وويل: ((زه اوس د بېرته تګ په غم کې نه يم، خو وېرېږم.))
-له څه شي وېرېږې؟
-که کار وبار پيدا نه شي، که کوم خطر را پېښ شي؟
-ما دومره بې غېرته نه ګڼلې، کاشکې ته مې هيڅ له ځان سره نه راوستې. کرار کرار په ما کې هم وېره پيدا کوې.
له دې خبرو سره لميد ضمير ته پر مخ څپېړه ورکړه: ((که دا ځل دې بيا د ډار خبرې وکړې، له موټر نه دې خطا کوم، چې مړ شې، بې غيرته.))
ضمير ته د لميد خبرو او څپېړې غوسه ور وسته او په لوړ غږ يې وويل: ((پام، چې بيا دا چټې خبرې و نه کړې، زه درته څه نه وايم تا فکر وکړ، چې زور به دې نه لرم. دا سې نه ده که بيا دې غوسه راوسته، دا سې دې خمبېره کړم، چې پخپله ووايې شاباس.))
د ضمير دې خبرو لميد خوشاله کړ: ((افرين شاباس! اوس پوه شوم، چې نارينه يې ماشوم نه يې، اوس مې باور وکړ، چې بيګانۍ فلم در باندې تاثير کړی.))
لميد څو شېبې څه سوچ کې لاړ او بيا يې وويل: ((فلم کې دې ونه کتل، چې هغه پنځه کلن هلک څنګه د پلار له ظلم او غوسو نه له کوره ووت او بل ښار ته لاړ، هلته يې کار وبار شروع کړ، پيسه داره شو او بيا يې يوې جلۍ سره عاشقي وکړه، هغه هلک هم کار کاوه، هم سپورت، تا وليدل چې وړوکوالي کې څنګه خوار و عين لکه ما او تا

ketabton.com - The Digital Library



غوندې، اخر څو مره غټ او باډي بلدر شو ، هیڅ یې هم زور نه لاره. اخر پلار هغه ته مجبور شو او هغه نه یې ښښنه وغوښته. زه او ته به هم هغسې شو ، پیسه داره به شو او د خپلې خوښې کار به کوو ، له چا نه څه کم یو. ))

ضمیر ته د لمید دې خبرو خوند ورکړ، په سوچ کې لاړ، فکر یې وکړ، چې غټ شوی دی، پیسه داره دی، له یوې نجلۍ سره یې د یارانې تار غزولی او په یو باغ کې له هغې سره په ګډه ا او سندرو بوخت دی.

هغه او لمید په همدې سوچونو کې وو ، چې کلینر غږ وکړ: (( هئ ! راځئ، ښکته شئ ! ښار ته را ورسېدو. لکه چې د موټر سورلۍ خوند درکړی، هلئ شابه را ښکته شئ. ))

ضمیر او لمید له موټر نه را ښکته شول، خو دېته په چورت کې وو ، چې څه وکړي او شپه چېرته سبا کړي. په پوښتنو پوښتنو د یوه هوټل مخې ته ودرېدل. کله چې یې د هوټل له مشر سره خبرې وکړې، هغه ورته ډېره جګه کرایه وښوده. له ډېر سوچ نه وروسته دواړه په دې سلا شول، چې د خپل یو خپلوان کور ته لاړ شي. لمید خپلوانو ته بانه وکړه، چې پلار یې دلته څه سودا پسې رالېږلي او هغه پخپله ناروغ دی.

***

سهار د وخته د تورخم هډې پر خوا روان شول. له تورخم نه د اوښتو پر مهال پاکستاني پولیسو ودرول، غوښتل یې دواړه له ځان سره تانې ته

ketabton.com - The Digital Library



بوځي، چې شور یې جوړ کړ او په ژړا شول. پولیسو پرې وار ګوزار وکړ او هغوی یې په ځان پسې کشول، چې یو تن د نورو خلکو له منځه رامخکې شو او هغه دواړه یې په دې نامه، چې خوریونه یې دي له پولیسو راخوشې کړل.
دواړه یو ګوښه ځای کېناستل او په ژړا سر شول. تر څو شېبې ژړا وروسته لمید وویل: ((ضمیره ته ولې نه غږېږې، ته ولې نه وایې، چې کور ته لاړ شو؟))
ضمیر وویل: ((زما ویل څه فایده کوي، ته یې نه منې.))
لمید په ژړا وویل: ((ته وو ایه که ما ونه منل په مخ مې په څپېړه ووهه، فقط غواړم، چې ته ووایې او ستا په خبره بېرته وګرځو))
- ولې زما په خبره؟
- په دې، چې که بیا په بېرته ګرځېدو پښېمانه شوم نو وبه وایم، چې د ضمیر په خبرو راګرځېدلی یم، نه په خپله خوښه.

۱۳۸۴

ketabton.com - The Digital Library



# دښمني

تیاره ماښام هغه سترې ستومانه په بېړه زمور کلا ته راننوته، د کلا دروازه یې په ځان پسې وتړله او دروازې ته تکیه شوه. دا چې اوله کې چا و نه پېژندله ټول وارخطا شوو او په وېره وېره د هغې پر خوا وخوځېدو. که څه هم هوا یخه وه، خو پر هغې خولې راماتې وې، ساه یې بنده بنده کېده. هغه مو راپورته کړه او کوټې ته مو راوستله. د څراغ په رڼا کې مې مور وویل: ((اوه ! دا خو د ګل میر اکا لور ګل ځانګه ده، همدا نن یې نکاح وه.))

مور ټول غلي د هغې سر ته ولاړ وو، تر ډېرې شېبې هغه چوپه خوله وه، هاخوا دېخوا یې کتل راکتل او یوه عجیبه وېره یې په سترګو کې ښکارېده.

د شپې مور مې له هغې سره په جلا کوټه کې ویده شوه. زه، پلار او خویندې مې په بله کوټه کې ویده شوو. تر سهاره پورې مور ته هیڅ خوب رانغی، ځکه همدا چې مور له هغې کوټې راووتو د هغې او زما د مور خبرې شروع شوې او هره شېبه وروسته یې په زوره زوره ژړل.

ketabton.com - The Digital Library



سهار همدا ، چې د چای څښلو په خاطر ټول په یوه کوټه کې سره راغونډ شوو ، مور مې پلار ته په غوږ کې څه وویل، خو موږ پرې پوه نه شوو.
پلار مې یوه شیبه په څه سوچ کې لاړ او بیا یې وویل: ((سمه ده، د خدای به همدا رضا وي.))
زما د پلار په خبرو ګل ځانګه لکه ګل وغوړېده او ما دا احساس کړ، لکه چې وېره ترې په کډه شوه.
تر چای څښلو وروسته پلار مې یو لیک ولیکه او ما ته یې راکړ: ((زویه! بر کلي ته لاړ شه او دا ګل میر خان ته ورسوه، ښار ته هم ورشه، خپلو وروڼو ته ووایه، چې درې واړه کورته راشي.))
زه چې له کوره راوتم، پلار مې ټوپک راواخیست، په پاکولو یې بوخت شو.
ما د پلار حکم په ځای کړ او مازیګر مهال یوازې د کور پر خوا رارهي شوم. چې کلي ته راننوتم حالت بدل و ، ټول کلیوال مو له ټوپکونو سره په بامونو کې ګزمې کولې. خپلې کلا ته، چې رانږدې شوم، سترګې مې پر خپلو وروڼو ولګېدې، درې واړه د کلا په دریو برجونو کې په ځار بوخت وو. وو بېرېدم او په منډه کلا ته ننوتم.
مور مې زما په لیدو په خوشالۍ زما پر خوا رامنډې کړې، زه یې غېږ کې ونیولم او ویې ویل: ((تر اوسه چېرته وې؟ زموږ خو دې نفس را وکښه.))

ketabton.com - The Digital Library



ګړۍ نیمه وروسته په کلي کې د ډزو او ازونه پورته شول، ښه شېبه ټوپکې وچلېدې، ماسختن مهال د کلي دوه، درې تنه سپین ږیري زمونږ کره راغلل او په حجره کې زما له پلار سره په سلا مشورو سر شول. هغوی چې وتل پلار مې پرې غږ وکړ: (( دې ما ته پناه راوړې، زما که سر هم پرې لاړ شي، پروا نه شته، زه د کلیوالو مرستې ته اړ نه یم، خو چې کلیوال زما د مرګ تماشه غواړي دا به را ته ګرانه تمامه شي. ))

نیمه شپه د کلا ور وټکېد ، مشر ورور مې په زوره غږ وکړ: ((پلاره ! د کلي سپین ږیري دي. ))

پلار مې له برج نه راکښته شو او له سپین ږیرو سره حجرې ته لاړ. ما ته، چې د هرې شېبې په تېرېدو سره عجیب غریب سوالونه په ذهن کې پیدا کېدل له ځانه سره مې پرېکړه وکړه، چې باید د هغوی خبرې واورم، چې څه وایي. په همدې خاطر د حجرې د کړکۍ تر څنګ ودرېدم. پلار مې وویل: ((زه پوهېدم، چې زما کلیوال بې همته نه دي او ما یوازې نه پرېږدي. اوس، چې تاسې راسره شوئ، د دنیا پروا مې نشته، دا خو لا قوماندان میرک دی. زه پوهېدم، چې زما کلیوال د حق پر خوا درېږي، اخر دا خو ظلم دی، چې شپاړس کلنه نجلۍ دې پنځه پنځوس کلن چرسي بوډا ته په نکاح شي. ))

ketabton.com - The Digital Library



د میرک د نوم په اوربدو وبښتان مې زیږه شول، هغه ډېر خطرناکه سړی دی، ټول کلیوال ترې وېرېږي، بغیر زما له پلار نه، چې بد بد ورته ګوري او څو پلا یې ورسره شخړه هم راغلې.))

سهار ناوخته له خوبه پاڅېدم، هاخوا دېخوا مې وکتل، خو ګل ځانګه مې تر سترګو نه شوه، مور ته مې ورغلم او پوښتنه مې ځنې وکړه.

هغې وویل: ((زویه! هغه په خپل بخت پسې ولاړه.))

ما خپلې مور ته وکتل، هغې وویل: ((زویه! هغه مو د خپل ما ما له زوی سره بل ولایت ته ولېږل، اوس به له میرک سره موږ ګز وپل کوو.))

اوس، چې له هغې پېښې دري کاله کېږي، لا هم موږ له میرک قوماندان سره په دښمنۍ کې یو. سږ کال مې پلار راته یو ټوپک واخیست او اوس زه د خپل پلار په ځای په څلورم برج کې پېرې کوم.

نن شپه په برج کې خوب رابانديې زورور شو. خوب مې ولید، چې قوماندان میرک بل ولایت ته تللی، ګل ځانګه یې پیدا کړې او هغه یې له خپل مېړه او تنکي زوی سره وژلې ده. له خوبه، چې را ولټېدم، وېرې په سر واخیستم. فکر مې وکړ هسې نه رښتیا میرک ګل ځانګه پیدا کړې وي.

په همدې سوچونو کې وم، چې د کلا دروازه وټکېده، پلار مې ووت. څو شیبې وروسته یوه زړه ښځه او یو زوړ سړی هم ورسره حویلۍ ته

ketabton.com - The Digital Library



راننوتل، په لوړ اواز یې غږ وکړ: ((هئ ! زما بچو راځئ راکښته شئ. کیسه تمامه شوه.))

ما خپل ساعت ته وکتل، ملا اذان ته لا وخت پاتې و. ټول ورونه په یوه کوټه کې سره راغونډ شوو، پلار مې وویل: ((دا د ګلخانګې مور وپلار دي، تر اوسه د میرک په بندیخانه کې وو. چرسي میرک پرون ماښام مړ شوی، خپلوان او کلیوالو یې د سولې سلا غږ وکړ، ما هم ورسره ومنل.))

**۱۳۸۵**

ketabton.com - The Digital Library



# نیمګړې مینه

پنځم ځل، چې بیا د موبایل زنګ اوچت شو، هوسۍ هغه غوږ ته کړ:
((ګورئ! ازار مه راکوئ، په سهوه ستاسو نومره راڅخه دایره شوې وه.
هیله ده، نور زنګ مه راوهئ!))
هغې په ډیره غوسه موبایل بند کړ او په الماری کې یې کېښود. له خپل
د ستکول څخه یې دوه کتابونه راواخیستل، خو ژر یې هغه بېرته
کېښودل او یو بل کتاب یې راواخیست: ((اول همدا خلاصوم، هغه
نور خو مې خپل کتابونه دي، دې نه چې خلاصه شوم هغه به وایم. دا
خو مې ملګرې سبا بېرته اخلي، ژر ژر یې باید نوټ کړم.))
ګړۍ دوه وروسته یې مور کوټې ته راننوته او ترې وپوښتل: ((پلار خو
دې زنګ نه و وهلی؟))
د مور له دې خبرې سره هغه په چټکۍ پاڅېده، له الماری څخه یې
موبایل راواخیست او روښانه یې کړ. مور یې بیا وپوښتله: ((زنګ یې

ketabton.com - The Digital Library



نه و وهلی؟ هغه خو ویلي وو ، چې مازیګر طرف ته به خامخا تلفون کوي. ) )
مور یې دا خبره وکړه او له کوټې په وتو وه ، چې زنګ راغی. هوسۍ هغه غوږ ته کړ ، خو ژر یې بېرته بند کړ.
مور یې وپوښتله: (( ولې وار خطا شوې ، خیریت خو به وي ، څوک و ، پلار دې و ؟ ) )
هوسۍ وویل: (( نه ! پلار مې نه و ، چا په غلطه زموږ نومره وهلې وه. ) )
درې میاشتې سر په سر بیا هم په هماغه وخت به د موبایل زنګ اوچت شو او هوسۍ به هر ځل له زنګ وهونکي څخه هیله کوله ، چې بیا زنګ و نه وهي. خو د درېیمې میاشتې په اخر کې ، هوسۍ به پخپله دې ته انتظار وه ، چې زنګ ورته راشي. هغه په همدې فکر کې وه ، چې د موبایل غږ اوچت شو او هوسۍ په مینه مینه ورسره لګیا شوه: (( چېرې دې لیدلې یم؟ څه ...د مکتب په لاره !...تا څه لیدلې یم ، زه خو څادرې په سروم. .. رښتیا وایې ، زما نومره دې په سهوه دایره کړې وه... خو ګوره ! هر ساعت زنګ مه راوهه ! پلار مې کله کله په کور وي... نه ! ټلفون ما سره نه وي ، مور مې ډېر وخت ناروغه وي ، پلار مې ډېر وخت په سفر کې وي ، موبایل یې زما مور ته اخیستی ، چې له حاله یې خبر شي. .. نه ! نه کېږي ، نه شم کولی... شله کېږه مه... و مې ویل که نه ، نه کېږي... زر ګله ولې شله کېږې ، مشکله ده... که څوک مو وګوري؟... څه

ketabton.com - The Digital Library



راته وایې، خو په تلفون کې راته وو ایه... څه! نه یې وایې... څه نو زه هم نه شم درتلی... نه، نه! نه کېږي، نه درځم... مشکله ده...))

سبا او بل سبا بیا زنګ راغی او هوسۍ بیا هم هماغه خبرې وکړې.

بله اوونۍ یې د شپې د خپل مور او پلار خبرې وا ورېدې، چې هغه یو بډای سړي ته، چې په عمر ډېر پوخ دی ورکوي. پخپله یې زرګل ته زنګ وواهه او چې د خپل پلار او مور له پریکړې یې خبر کړ، په ژړا شوه.

هوسۍ چې چای وڅښه، ځادري یې په سر کړه. د خدای پامانۍ په وخت کې یې خپله مور ټینګه په غېږ کې ونیوله او په ژړا له کوره ووته. نږدې مازیګر زرګل او هوسۍ د بل ولایت یو هوټل ته لاړل. درې ورځې وروسته زرګل له هوټل نه ووت او دوه درې شپې، چې بېرته رانغی، هوسۍ وارخطا شوه، د هوټل له خاوند نه، چې د زرګل کلیوال او ملګری و، د هغه پوښتنه وکړه. هوټلي ورته وویل: ((زرګل بېرته نه راګرځي، هغه کلي ته تللی، پلار یې ورته ګوابښ کړی.))

هوسۍ خپلې کوټې ته راغله، خپل شیان یې راټول کړل او د خپل ولایت په لور وخوځېدله. همدا چې خپل کورته ورسېدله، د خپل پلار او مور پښو ته وغورځېدله او ټول حال یې ورته وو ایه. لانجه غټه شوه او د هلک خپلوانو د هغه د ښځلو لپاره جرګې پیل کړې. جرګه لس ورځې دوام وکړ او په پای کې جرګه د هوسی په پلار دا ومنله، چې هغه وښځي او خپله لور ورته ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library



د جرګې په بل سبا اوازه خپره شوه، چې د هوسۍ پلار زرګل وژلی. بيا جرګې پيل شوې او جرګه د زرګل د خپلوانو په خوښه فيصله وکړه، چې يا دې هوسۍ ووژله شي او يا دې د زرګل مشر ورور ته په نکاح شي. هغه دوې نورې ښځې هم لرلې. د هوسۍ پلار دا ومنله، چې هوسۍ د زرګل مشر ورور ته ورکړي.
چا دا خبره تر هوسۍ ورسوله. هوسۍ په بېړه له کوره ووتله او تر مازيګره يې ځان په يو لرې ولايت کې يو حقوقي دفتر ته ورساوه. دې دفتر د هغې د ژغورلو لپاره ډېرې هڅې وکړې، خو د هغې پلار و نه منله، چې دا دې ژوندۍ پاتې شي. دفتر بله پرېکړه وکړه او دا دی نن هوسۍ په ناهيلي زړه يو نا اشنا ملک ته روانه ده.
۱۳۸۵

ketabton.com - The Digital Library



# ځانمرګی

له درې ورځو راهیسې د ګلداد فکر خراب و ، دم شپه کې به یې یو سخت ټکان وخوړ او په ځیر به یې شاوخوا ته وکتل. هر ځل، چې به سوچونو په سر واخیست، ټکان به یې وخوړ، یو دم به له ځایه راپاڅېد ، ګراج ته به لاړ او تر ډېرې شپې به یې خپل ټکسي موټر ته په ځیر ځیر کتل. نن هغه بیا هم د خپل موټر تر څنګه ولاړ او په سوچ کې ډوب و. شېبه په شېبه یې رنګ الوت او خولې پرې راماتېدلې. څو دورې له موټر څخه تاو راتاو شو. سر پرې وګرځېد ، ځای په ځای موټر ته مخامخ کېناست او په ګډو وډو سر شو: (( نه، نه ! دا موټر باید خرڅ کړم، که نه په یو لوی رنځ به مې اخته کړي... نه، نه ! ولې به یې خرڅوم، که یې خرڅ کړم، څه به کوم، زما چې بل کسب وکمال نه زده... نه، نه ! نه یې خرڅوم... که خرڅ یې نه کړم، په رنځ به اخته یم...نه، خرڅوم یې ...نه ! نه یې خرڅوم ...خرڅ ... نه... نه ))

ketabton.com - The Digital Library



له دې خبرو سره د هغه له خولې یوه اوچته کړیکه راوختله: ((زه څه وکړم... اوه خدایه څه وکړم، ته لار راوښیه.))
د هغه له دې کړیکې سره مېرمن یې په منډه ګراج ته راننوته او پرې غږ وکړ: ((د اسد پلاره! څه دي، ولې دې چیغه وکړه.))
د ګلداد ځان ته پام شو او ویې ویل: ((هیڅ هم نه دي، ته دلته څه کوې؟))
-هیڅ، ستا چیغه مې واورېده. ما وې چې خیریت وي.
ګلداد موسک شو: ((ته هر څه ته ژر واخطا کېږې، خیر و خیریت دی.))
له دې خبرې سره دواړه مخ په کوټې وخوځېدل. کوټې ته په ننوتو سره ګلداد اوبه وغوښتل. تر څو یې ښځې اوبه راوړله، دی خپل چپرکټ ته تکیه شو او بیا په سوچ کې لاړ، خو دا ځل د سوچونو لړۍ یې ژر وشلېده، مېرمنې یې اوبه راوړې. ده چې اوبه وڅښلې، مېرمنې یې ترې وپوښتل: ((دا په تا څه شوي، څه خبره ده؟))
ده خپلې مېرمنې ته وکتل، د هغې پریشان حالت وځوراوه، خوله یې جوړه کړه، چې څه ووایي، خو ژر پښیمانه شو او تر شونډو لاندې یې ورو وویل: ((نه! هغه خو ما ته قسم راکړی، قسم څنګه مات کړم.))
له دې سره یو ځل بیا په سوچ کې ډوب او په ګډو وډو سر شو: ((که خرڅ یې کړم، زه به څه کوم، خرڅ خوراک به څنګه کړم. نه، نه! نه یې

ketabton.com - The Digital Library



خرڅوم... که خرڅ يې نه کړم، ټول عمر به عذاب ګالم، دا ښه ده، چې خرڅ يې کړم.))
ښځې يې، چې د هغه دا حالت ولید په ژړا شوه: ((اوه خدایه زما په سړي څه شوي، پخوا چې داسې نه و.))
د هغې د ژړا د غږ په لوړېدو سره ده ټکان وخوړ، خو ژر په ځان کابو شو او په خندا يې و پوښتل: ((ولې ژاړې، څه چل دی؟))
- نور به څه چل وي؟ زما خو دې زړه اوبه کړ.
- ولې داسې وایې، ما څه کړي دي؟
- هیڅ
- نو بیا ولې ژاړې؟
- ستا دا حالت مې ځوروي.
- کوم حالت؟
- دا له ځان سره چې غږېږې، دا دوه ورځې چې دم شېبه په سوچ کې لاهو کېږې او ټکانونه خورې.
ګلداد په خندا شو: ((مین شوی به یم.))
- نه! باور مې نه راځي، کانې دې د مینانو نه دي. خبرې دې بل ور دي، وو ایه څه کیسه ده؟
- ته باور مه کوه، خو زه رښتیا وایم، زه مین شوی یم.
- زوړ سړی يې دا خبرې درسره ښې نه ښکاري.
- تا ته به زوړ ښکارم.

ketabton.com - The Digital Library



- ځه دا خبرې پرېږده سپینه خبره وکړه.
- کومه خبره، لېونۍ !؟
- هغه، چې تا ځوروي.
- ما خو هیڅ خبره نه ځوروي.
ده چې دا خبره وکړه، ښځه یې په ژړا دالېز ته ووتله او په تګ تګ کې یې وویل: ((تر اوسه مې چا تـه د خپـل کـور خبره نـه ده کړې، خو اوس مجبوره یم، چې لالا مې راوغواړم.))
څو شېبې وروسته دی هم ورپسې ووت او په خندا یې وویل: ((لکه چې زما په ټوکو خپه شوې، که څنګه؟))
-نه دا ټوکه نه ده، ته سهي حال نه وایې.
ګلداد له کوره ووت. تېر ماښام یې په یو تر پالي موټر کې له بازاره درې بوجۍ وریجې، غوړي او نوره سودا له ځان سره راوړه. د شپې تر ډوډۍ وروسته یې مېرمن تـرې وپوښتل: ((پـه دې وریجـو او سودا باندې څه کوې؟))
ګلداد وخندل: ((خو ومې ویل که نه، چې مین شوی یم، د واده ترتیبات نیسم.))
د ګلداد دا خبره په لوښو او زامنو یې ښه ونه لګېده او یو یو له کوټې ووتل. ښځه یې هم له خپله ځایه پاڅېدله، خو ده له لاسه ونیوله: ((کېنه، کم عقلې ! لکه چې تا هم باور وکړ، چې بل واده کوم، واده نه کوم، ختم کوم.))

ketabton.com - The Digital Library



ښځې یې په حیرانۍ ترې وپوښتل: ((د څه لپاره یې کوې؟ ته خو کال بل کال په خپل پلار پسې ختم کوې. دا د څه شي ختم دی؟))
- ډېر مې مه ځوروه، هسې مې زړه غواړي د خدای په رضا یو ختم وکړم.
- نه اوس نو خدای مې دې غاړه نه بندوي، ستا په خبرو مې بالکل باور نه راځي.
- څه ! دا څه وایې؟
- زه وېرېږمه. حتماً څه شته، خو ته یې پټوې. کاشکې مې لالا دلته وای او هغه مې راغوښتی، تا به اوس د وخته ټول حال ور ته ویلی او موږ به هم د رسره زړه نه خوړ.
ګلداد له کوټې ووت او مشر زوی ته یې غږ وکړ: ((راشد جانه ! یو ځل ټول زما کوټې ته راشئ، چې دا د ختم کارتونه ولیکو.))
د ختم د نامه په اورېدلو سره ټول لونې او زامن یې کوټې راغلل او تر ناوخته پورې یې کارتونه ولیکل. د کارتونو تر لیکلو وروسته راشد په ټوکه کې وویل: ((پلار جانه ! ما ته خو غوسه په دې راغلې وه، چې زه در نه هېر وم او ځان ته دې واده کاوه، خو پوه نه شوم، چې رښتیا هم خبره څه ده؟))
ګلداد موسک شو: ((زویه ! غم مه کوه، دواړه به یو ځای واده کوو.))

ketabton.com - The Digital Library



د شپې دوه درې ځلې ګلداد په خوب کې وویرېد، په درېیم ځل، چې ویده شو او بیا یې هم خوب ولید، وویرېد، چیغې یې وکړې او بیا نو خوب ته یې زړه ښه نه کړ او تر سهاره ویښ پاتې شو.
د ختم تر ورځې، دوه درې ورځې بیا هم غلی و او دا یې ونه ویل، چې څه خبره ده، ولې پریشانه دی او په خوب کې وېرېږي؟
د ختم په ورځ کې د ګلداد حال نور هم پسې خراب شو او دم شېبه به وویرېد، ټکان به یې وخوړ. د ډوډۍ ورکولو په وخت، چې پوه شو نور نو له خلکو سره د ناستې او ودرېدو نه دی، خپلې کوټې ته لاړ او کرار پرېوت. مېلمانه ډوډۍ ته ناست وو، چې ده یوه اوچته کړیکه وکړه. د هغه په دې کړیکې سره ټول نږدې خپل خپلوان یې کوټې ته راغلل. ټولو هغه ټینګ ونیو، چې حال ووایي، خو هغه هیڅ هم ونه ویل. ښځه یې یو ګوښه کې کېناسته او په ژړا سر شوه. ده پرې څو وارې غږ وکړ، چې غلې شي خو هغې لکه، چې د ده خبرې نه اورېدلې همداسې په ژړا سر وه، خو څو شېبې وروسته یې څه اشنا غږ واورېد، په منډه له کوټې ووتله. لږ ځنډ وروسته بېرته له خپل مشر ورور سره کوټې ته راننوته او هغه ته یې ویل: ((رشید لالا! خدای خبر د راشد جان په پلار څه شوي، ورځ په ورځ یې حال خرابېږي، هر څومره که یې پوښتو څه نه وایي.))
رشید خان د ګلداد تر څنګ کېناست او ترې وپوښتل: ((څه خبره ده، په تا څه شوي، ولې حال نه وایې؟))
ګلداد لومړی ده او بیا نورو مېلمنو ته وکتل.

ketabton.com - The Digital Library



تر څه سوچ وروسته، رشید خان میلمنو ته معنی داره وکتل، ټول له کوټې ووتل، خو د راشد مور ونه وتله او د وره د پردې تر شا ودرېده.
رشید خان د ګلداد ترڅنګ کېناست: ((ښه اوس خو نور ووتل، حال ووایه څه کیسه ده؟))
ګلداد مخامخ هغه ته وکتل: (( هیڅ خبره هم نشته، هسې یو دم چورت مې خرابېږي.))
- نه، خامخا څه شته خو ته حال نه وایې.
- باور وکړه هیڅ هم نشته
- ګوره تا تر اوسه خپله هیڅ کومه خبره له ما نه ده پټه کړې، اوس یې هم مه پټوه، کېدای شي یوه د حل لار پیدا کړو، تر څو به داسې مړ پړ په کور کې پروت یې؟
- ما خو وویل، چې څه نشته، ولې مې ځوروې.
- که حال ونه وایې، زما او ستا دې همدا اخیري دیدن وي.
ګلداد ډېر څنډ غلی پاتې شو، رشید خان له خپله ځایه پاځېد، خو له کوټې نه وتلی، چې ګلداد پرې غږ وکړ: (( څنګه یې درته ووایم، هغه ما ته پر ایمان قسم راکړی، قسم خو نه شم ماتولی.))
د هغه له دې خبرې سره ښځه یې پرده څنډ وهله او په لړ لوړ غږ یې وویل: (( هغه که په ایمان قسم در کړی، زه در ته په خدای قسم درکوم، چې حال ووایه.))

ketabton.com - The Digital Library



د ګلداد غوني زيږېږي شوي، نيغ پر خپل ځاى کېناست او څه ځنډ وروسته يې وويل: ((د خداى زور نه لرم، خداى مې دې د قسم پر ماتولو نه نيسي. کيسه داسې ده چې....
هغه غلى شو او له خپلې مېرمنې يې اوبه وغوښتې. هغې چې اوبه راوړه او ده ترې يو غړپ وڅښه، ويې ويل: (( يوه هفته مخکې، چې سهار له کوره ووتم. په ښار کې يو چا راته لاس ونيو او ويې ويل، چې که ټوله ورځ مې په ښار کې وګرځوي څومره غواړې. يو څه چنې مو ووهلې، اخر کې په دوه نيم زره افغانۍ راسره راضي شو او ټوله ورځ په ښار کې ښکته پورته وګرځېدو. ماښام همدا، چې خړه په لګېدو شوه، هغه وويل، چې کمپنيو ته مې بوځه، ما هم ورساوه. چې ښکته شو او پيسې يې راکړې، ويې ويل: ((نېټه دې نه وه پوره. ))
ما ورته وويل: ((هغه څنګه؟ ))
هغه د خپل اور کوټ جمپر رنځير خلاص کړ.
دې خبرې سره پر ګلداد خولې راماتې شوې، څه شېبه غلى شو او بيا يې ورغبرګه کړه: ((څه ګورم هيڅ مې باور نه راته، هغه ځانمرګى و، هغه پر خپل ځان بمونه تړلي وو، د هغه په ليدو عقل مې له سره وخوت، وارخطا شوم. خو هغه تسلي راکړه: ((ولې وارخطا شوې، د وارخطايئ خبره نه ده، اوس خو بچ شوې. ))
له دې خبرې سره ځانمرګى سوړ اسويلى وکېښ او راته يې وويل: ((ته دا ګوره، ټوله ورځ نه د خارجي نه د دولتي عسکرو کوم کاروان مخې

ketabton.com - The Digital Library



ته راغی، که راغلی وای او س به خلکو زما او ستا د غوښو ټوټې ټولولې، خو ګوره ستا دې پر خپل ایمان قسم وي، چې چا ته به هم دا حال نه وایې.))

۱۳۸۲

ketabton.com - The Digital Library



# بې خوده خودي قتل

هوسۍ په ډېرې خوارۍ او کړاو ځان د مېږه له منګولو خلاص کړ، په یوه منډه اشپز خانې ته ننوته او ور یې په ځان پسې کلپ کړ.
مېږه یې هم ورپسې منډه کړه، خو د اشپز خانې ور یې ببرته نه کړای شو. بېرته کوټې ته راننوت،لاسونه یې سره ومروړل، وارخطا شو، ژر یې خپلو لاسونو ته وکتل، په وینو وو. ښه ورته ځیر شو، د ښي لاس منځۍ ګوته یې ژوبله وه. غاښونه یې سره کیکارل، له ډېرې غوسې ستمی ستمی شو: (( نه... نه ! روغه... دې... نه...پرېږدم، والله که...رانه خلاصه شې، دا ... خو ...مې دې ... پزه وینه کړه، چې... څو ځایه دې... سر... مات... نه کړم ...پرېږدم دې نه، زما ګوته... زما ګوته ولې ژوبله شي؟ ))
له دې خبرې سره په بېړه له کوټې ووت، په دالېز کې یې ښکته پورته وکتل، داسې څه په نظر ورنغی، چې ور پرې پرانېزي. په ډېر زور د

ketabton.com - The Digital Library



اشپز خانې وره ته اړم شو، خو چې څومره وس يې وکړ، ور خلاص نه شو، چيغه يې کړه: (( ور پرانيزه ! سپي ! ))
هوسۍ په ژړغوني انداز د وره له شا وويل: (( که مې پرانسته وهې مې، نه ! نه يې پرانيزم. ))
ـ په سمه در ته وايم، ور پرانيزه، که نه...
ـ که نه څه؟
ـ که نه، ما ته هم جبار وايي، ور ماتوم، که ور مې مات کړ، بيا به دې داسې کړم، چې په ټول ژوند کې يې ياد ساتې.
تر لږ ځنډ وروسته جبار، په منډه حوېلۍ ته ووت، خو لا د دالېز له وره نه و وتلی، چې هوسۍ ور پرانيست او خپله هم دالېز ته راووته. جبار پرې ورټوپ کړ، هغه يې پر ځمکه وغورځوله او بيا يې تر سوکانو او لغتو لاندې ونيوله. په دم شېبه کې د هوسۍ مخ په وينو سور شو او تر څو وړو وړو سلګو وروسته بې هوښه شوه. هغه په بې هوښۍ کې هم څو سوکان او لغتې ورکړې، بيا اشپز خانې ته ننوت او خپل په وينو لړلي لاسونه يې پرېمينځل. له اشپز خانې چې راووت، هوسۍ ته يې بد بد وکتل او په ډېر قهر يې بيا په ملا په لغته ووهله، خو هوسۍ نه وخوځېده او نه يې له خولې څه غږ ووت. جبار کوټې ته ننوت، د الماري تر څنګه کېناست، د مات شوي بوتل ټوټې يې راپورته کړې او له ځانه سره يې وويل: ((نه ! نه دې پرېږدم، همداسې به دې لاسونه او

ketabton.com - The Digital Library



ښښې بند په بند جدا کوم، ما په څومره شوق دا اخیستی و، خارجي و، ډېر قیمت مې اخیستی و، تا په مفته کې مات کړ.))

هغه د بوتل ټوټو ته په کتو په څه سوچ کې ډوب شو، سر یې وخوځاوه، راپاڅېد، الماری یې پرانیسته، یو بوتل او یو ګیلاس یې رااخیستل او تر نیمایي یې ګېلاس کې شراب واچول. یو دوه غړپه یې، چې ترې وکړل، له ګېلاس سره دالېز ته ووت او د هوسۍ تر څنګه نږدې کېناست. ګېلاس یې د هغې د سر او مخ پر ټپونو واړاوه. هوسۍ سخت ټکان وخوړ او په اوچته کړیکه نیم خیزه شوه، خو ژر بېرته پرېوته، اړخ په اړخ واوښته را واوښته او نالښت یې پیل کړ.

جبار راولاړ شو، هغه یې له لاسه ونیوه او په ځان پسې یې کش کړه، کوټې ته یې ننویسته، د مات شوي بوتل د ټوټو تر څنګ یې کېنوله او ورته یې وویل: ((دا ګورې، همدا سې چې بند په بند دې ماته نه کړم، پرېږدم دې نه، ډېر دې پرې ودردولم. زه وځم چې څه سودا راوړم، څو راځم تا به دا ټوټې موټې ټولې کړې وي، پام کوه چې دیګ خراب رانه شي، و مې نه شرموې.))

جبار، چې بېرته راستون شو، د بوتل ټوټې هماغسې د کوټې په غولي کې پرتې وې او هوسۍ بې حاله پر کړکۍ سر ایښی و. ده راوړې سودا د کوټې منځته خطا کړه، هوسۍ یې له وېښتانو ونیوله، په ځان پسې یې راکش کړه او اشپزخانې ته یې بوتله. هلته یې یو سطل اوبه پرې تویې کړې. اوبه یخې وې د هغې ساړه وشول، ځان یې را ونغښت، ورو

ketabton.com - The Digital Library



ورو يې پورته د خپل مېړه سترګو ته وکتل. وېره واخيستـه، يـو دم يـې پښـو تـه پرېوتـه: ((مـا... وبښـه ! تـه چې ...څه وايـې... هغسـې کـوم... مـا پرېږده... چې ...کوټې ته... لاړه... شم، زما ... زما... يخ کېږي. ))

جبار په غوسې له اشپز خانې ووت، هوسۍ ورپسې په خاپوړو روانـه شـوه او کـوټې تـه ننوتـه. جبـار د ترکـارۍ پلاسـتيک د هغـې پـر مـخ وويشت: ((وخت کم دی، مېلمانه را روان دي، ژر ډوډۍ تياره کړه. ))

هوسۍ په نيم خېزه حالت د ترکاريو پلاستيک راواخيست، چې اشپز خانې ته لاړه شي، خو و نه توانېده. د وره له ټکا سره جبار په منډه ووت او ويې ويل: (( مېلمانه راغلل، ژر شه خواړه تيار کړه. ))

هوسۍ د ودرېدو هڅه وکړه خو سر پرې وګرځېد او راوغورځېده. خو دا ځل ژر په هوښ شوه او د جبار غږ يې تر غوږ شـو: ((هـر څـه تيـار دي، تر څو تاسې يو پنجه قطې کوئ، ډوډۍ هم تيارېږي. ))

د خپل مېړه له دې خبرې سره، هوسۍ په خاپوړو خاپوړو د وره پـر خـوا وخوځېده، خو لا وره ته نه وه نږدې شوې، چې جبار کـوټې تـه راننـوت: ((دا مکاره ګي دې پرېږده، مه مې مجبوروه، چې چيغې دې پـه مېلمنـو واوروم. ))

هوسۍ په ژړا شوه: (( په خدای که درواغ وايم، د ودرېدو نـه يمـه، خيـر دی نور هر څه مې تيار کړي، فقط دا يوه ترکاري پـاتې، لـږې اوبـه پـرې تېرې کړه، که يې ما ته پرېږدې، ناوخته به شي. ))

ketabton.com - The Digital Library



د هوسۍ دا خبره پر جبار ښه و نه لګېده، په ډېر غضب يې د ترکارۍ پلاستيک له هغې واخيست، پر ځمکه يې وويشت او بيا يې هوسۍ تر لغتو لاندې ونيوه. د هوسۍ له چيغو سره، د يو مېلمه غږ اوچت شو:
(( څه کيسه ده، په موږ خو به په تنګ نه يا ست؟ ))
جبار له شرمه هوسۍ پرېښوده او پخپله يې د ډوډۍ بند وبست وکړ.
جبار دوی ډوډۍ خوړله او پيکونه يې سره جنګول، چې د هوسۍ د نالښت غږ ورو ورو اوچت شو. جبار راپاڅېد ، په منډه ځنګ کوټې ته، چې هوسۍ په کې تاو راتاوېدله، ننوت: ((که دا ځل دې غږ اوچت شو ، ژوندۍ دې نه پرېږدم. ))
خو هوسۍ د خپل اختيار نه وه، نالښت يې نور هم زيات شو. جبار تـه غوسه ورغله، دا ځل يې دومره بد بد ووهله، چې خپل لاسونه يې هم په درد شول. بيا د يو مېلمه غږ اوچت شو: ((جبار خانه ! راځه هغه پرېږده، خپل جواب وايه، موږ ته لا جواب يې، هغه څه کوې. ))
جبار په منډه د مېلمنو کوټې ته لاړ. يو ميلمه تش بوتل هغه ته ونيو: ((ډېر نا خرابات يې، ته دا ځواني ګڼې، چې يو بوتل ته دې کېښولي يو ، که پوهېدو خپله به مو يو څه راوړي وو. ))
جبار خپل لاسونه ومروړل: ((زه او ناخراباتي، مېلمه مې يې کـه ستړی نه وم، بيا دې ليدل، چې څه مې درسره کول. ))
بل مېلمه ورته وويل: ((کېنه ناځوانه ! په ګوا ښونو ځواني نه کېږي، ښه خو به دا وه، چې په بوتلو دې ويشتلو. ))

ketabton.com - The Digital Library



جبار هغه ته مخ واړاوه: ((سرداره ! خوله په ځای خوځوه ! نه ناخرابات یم نه ناځوان، ما چې څه لوظ کړی و ، هغسې مې کړي وو ، خو... ))
یو مېلمه یې په خبرو کې ورولوېد: ((خو څه؟ ))
ـ مازیګر زما او د ښځې په همدې بوتلو شخړه راغله، هغې یو بوتل مات کړ، که باور مو نه راځي ورشئ ویې ګورئ، ټوټې یې اوس هم په هغه بله کوټه کې پرتې دي. ))
ـنه نه ! ستا په خبره څنګه باور نه کوو ، د هغه اثبات خو ستا د ښځې چیغې هم کېدای شي.
له دې خبرې سره بل مېلمه له خپل بغل جېب نه یو بوتل راوویست او په ډېر غرور یې وویل: ((زه لکه چې پوه وم، چې دا مې له ځان سره راواخیست. ))
سردار پر هغه غږ وکړ: ((ژوندی خو اوسې باداره ! که نه نیم سوزه به پاتې وو. ))
دوی بوتل نیمایي کړی و ، چې بیا د هوسۍ غږ اوچت شو: (( اخ خدایه مړه شوم، اخ په ما رحم وکړئ، اخ مرم. ))
د هغې له غږ سره جبار مېلمنو ته وویل: (( دا لکه چې ځان راباندې حراموي څه؟ هسې هم په زړه کې مې ورته اور بل دی. ))
یو مېلمه ترې وپوښتل: ((باداره ! څه وایې، څه چل دی، ولې؟ ))

ketabton.com - The Digital Library



جبار وویل: ((ډېره مکاره ده، ستاسې تر راتګ د مخه مې هم هډوکي ورته ګرم کړي دي، ځان يې په بدو واړاوه. دا هر څه ما پخپله تيار کړي، حتی ترکاري مې هم پخپله وينځل.))

د جبار له دې خبرې سره ټولو مېلمنو په کړس وخندل: ((تا خو د ځوانۍ دعوا کوله، پخير زنچو هم وختې.))

دې پېغور جبار ته غوسه ورووسته، له ځايه پاڅېد: ((ځم ورپسې، دا تاسې نه، هغې راباندې وخندل.))

جبار زنګېدلی زنګېدلی له کوټې په وتو و، چې يو مېلمه پرې غږ وکړ: ((باداره! په سد راته نه ښکارې، خالي لاس مه ورځه، نه چې درباندې زوروره شي، هه دا زما چاقو درسره واخله، که ستا په ځای وای ژوندۍ مې نه پرېښوده، پوه شوې که نه؟ دا سې ښځې ته خو مرګ روا دی، چې له مېړه نه زنچو ساز کړي.))

جبار ببرته راوګرځېد، په ببړه يې د مېلمه له لاسه چاقو واخيسته او زنګېدلی زنګېدلی د هوسۍ کوټې ته ننوت، سم له واره يې پر هوسۍ د چړې ګوزارونه شروع کړل. هوسۍ په وينو کې ليت پيت شوه. د ډېرو وينو په ليدو د جبار طبعه خټه شوه، نېشه يې له سره والوته، حويلۍ ته يې منډه کړه او چيغې يې کړې: ((هلئ چې ښځه مې لېونۍ شوې، هلئ چې ځان وژني، هلئ راورسئ.))

په څو شېبو کې د چم ګاونډ خلک او د ګزمې پوليس د جبار کورته رانوتل. پوليسو چې هوسۍ په تذکره کې اچوله، هغې سترګې

ketabton.com - The Digital Library



پرانیستې او پرې کړې پرې کړې یې وویل: ((زه... خپل...خپل خا...خا...خاوند ووهلم...))
پولیسو، چې جبار ته هتکړۍ واچولې، د هوسۍ سترګې هم پټې شوې.

**۱۳۸۳**

ketabton.com - The Digital Library



# وروستی دښمن

جمیل سټړی او خولې خولې کوټې ته راننوت او اوږد پر خپل چپرکټ وغځېد. څو شېبې وروسته یې، چې سټړیا ووته، پر هغه ټوپک یې، چې ده ته پر مخامخ دېوال ځړېدلی و، سترګې وګنډلې. ټوپک ته په کتو کتو په ژور سوچ کې لاهو شو. شېبه په شېبه یې د څېرې رنګ بدلېده رابدلېده او سترګې یې تکې سرې واوښتې. له ډېر غضبه خولې پرې راماتې شوې. غاښونه یې سره کېکاږل او په یوه ټوپ له ځایه راپاڅېد، د دېوال ته ورنږدې شو، ټوپک ته یې لاس وراوږد کړ، خو پښه نیولی شو: (( نه، نه ! که داسې وکړم لکه، چې خپل ځان مې برباد کړی وي. نه، نه داسې نه کوم. ))

بېرته پر خپل چپرکټ کېناست. لاسونه یې سره ومروړل. اخوا دېخوا یې وکتل. ساړه ساړه اسویلي یې وکښل. له چپرکټه راپاڅېد، په کوټه کې په قدم وهلو بوخت شو. د کوټې تر ښه ګز او پل کولو وروسته د کوټې پر غولي نیم ګونډه کېناست، نیم نظر یې ټوپک ته وکتل. بیا

ketabton.com - The Digital Library



قهرجن شو، وجود یې ورپېد، خولې پرې راغلې، په ډېر غضب راولاړ شو، ټوپک یې راواخیست اوږې ته یې کړ. د وره پر خوا رهي شو. له وره یې لا پل د باندې نه و ایښی، چې بېرته راوګرځېد او ښه شېبه بیا اخوا دېخوا په کوټه کې وګرځېد. چې ښه ستړی شو، خپل چپرکټ ته راغی، ټوپک یې پر خپلو زنګونو کېښود او په ځیر ځیر یې ورته وکتل. ټوپک ته په کتلو کتلو یې د تېرو وختونو یادونه ورپه زړه شول. هغه وخت ورپه یاد شو، چې د لومړي ځل لپاره یې ټوپک ته لاس کړی و.

دی نوی له مهاجرته راستون شوی او په کلي کې د کار په لټه کې و، خو نه په کلي کې کوم کار ورته پیدا شو او نه په ښار کې. تمامه ورځ به د کلي په کوڅو کې خوشې سرګردان ګرځېده.

په ټول کلي کې یې د کوڅه ډب لقب ګټلی و. خپلې کورنۍ او خپلوانو به ورته پېغورونه کول، چې د کار روزګار سړی نه دی او دومره نه شي کړای، چې حتی ځان ته یوه ګوله ډوډۍ پیدا کړي.

دې خبرو هغه سخت ځوراوه، خو څه چاره، دا ټولې خبرې یې په سړه سینه زغملې.

یوه ورځ، چې نور ډېر په تنګ شو، له ځان سره یې هوډ وکړ، چې کلی پرېږدي او بېرته پرد بسۍ ته مخه وکړي. له کلي د وتو په ورځ، په لاره کې یې خپل یو ملګری ولید. ملګري یې ورته وویل: (( لېونی یې څه ! چې بېرته ځې، دلته خو کارونه کم نه دي. ))

ketabton.com - The Digital Library



ده بې واره ځنې وپوښتل: ((کوم کارونه، زه خو د کار په لټه له پېښو وغورځېدم.))
ملګري یې ځواب ورکړ: ((ته سبا زموږ د پرې ته راشه، زه او ته چېرې ځو، خو ګوره، چې اګر مګر دې بیا په کې نه وي.))
جمیل ورته وویل: ((هر کار، چې وي کوم یې، مقصد، چې له پېغورونو خلاص شم.))
په سبا جمیل او د هغه ملګری دواړه د کلي د یوه قوماندان کور ته ورغلل. په خبرو خبرو کې قوماندان جمیل ته وویل: ((ټوپک درکوم، خو کار درنه غواړم.))
جمیل د ټوپک د نوم په اورېدو ولړزېد، خو له لږ سوچ وروسته یې له قوماندان سره ((هو)) وکړه. قوماندان ورته ټوپک ورکړ او د وتلو په وخت کې یې څو روپۍ هم ورته ونېولې. جمیل ټوپک په اوږې خوښ او خوشاله خپل کور ته راغی. د شپې یې له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړې او ویې ویل، چې سر له سبا تر یوې میاشتې به کور ته نه راځي. کورنۍ یې که څه هم خوښه ورنه کړه، خو ده د هغوی پېغورونه ورته یاد کړل او سهار د وخته بې له دې، چې له چا سره خدای پاماني وکړي له کوره ووت.
ده ډېر وخت له هغه قوماندان سره تېر کړ. ډېر جنګونه یې ورته وکړل او ډېر امتیازونه یې ترې واخیستل. ورځ په ورځ قوماندان ته نږدې کېده او د هغه اعتبار یې تر لاسه کاوه. تر دې، چې د هغه مرستیال شو. تر

ketabton.com - The Digital Library



مرستیالی، څو ورځې وروسته د ده او قوماندان ترمنځ لانجه پیدا شوه. ده قوماندان او د هغه ساتونکي بې وسلې کړل او پخپله قوماندان شو. څو ورځې وروسته قوماندان پر ده د یوې لویې لارې په اوږدو کې ډزې وکړې او دی پر چپه پښه ولګېد.

د دې پېښې په یادېدو هغه ټکان وخوړ، خپله پایڅه یې پورته کړه، هغه ټپ ته یې په ځیر وکتل او له ځانه سره یې وویل: (( خیر ! هغه که په پښه ټپ راکړ، ما له ژونده خلاص کړ. ))

له دې خبرې سره یې ټوپک راپورته او مچ یې کړ: (( ټوله مېړانه ستا وه، که نه ډک زړه به پاتې وم. زما ټول نوم و نښان ستا له برکته دی. زه نو څه وم؟ ))

خو لکه، چې پر خپلو دې خبرو پښېمانه شوی وي، ټوپک یې په بېړه پر ځمکه وغورځاوه: (( نه، نه ! ته مېړنی نه یې، ته یوازې مرګونه کوې. وژونکي مېړني نه وي، تا که شتمني او نوم و نښان راکړی، له نورو دې پردی کړی یم، ته پر سر نه پر ځمکه ښه یې. ))

جمیل د اوږدې شېبې لپاره په سوچ کې ډوب و او تر شونډو لاندې له ځانه سره غږېده. شېبه په شېبه یې حالت بدلېده او له خپل ځان سره په جنګ و. په همدې سوچونو کې یې پر ځمکه پروت ټوپک ته وکتل: (( نور نو زه لېونی کېږم !... څه وکړم؟... له ټولو لرې او جلا ،... دا څه ژوند دی؟... اوس کرار کرار مې خپل ملګري هم پرېږدي، هسې نه سبا خالي

ketabton.com - The Digital Library



میدان ته پاتې شم. زه څه وکړم، نپوهېږم، زه لېوني کېږم... زه ... زه لېوني... ))
له دې خبرو سره جمیل ټوپک له ځمکې راپورته او خپلو سترګو ته رانږدې کړ: (( ستا یاري، د نورو دښمني ده. ستا دښمني یوازې په تا لـه منځه وړلای شم. ))
جمیل ټوپک بېرته په دېوال ځوړند کړ او پر چپرکټ اوږد وغځېد. سترګې یې پټې کړې او له ځانه سره لګیا شو: (( دا دښمني څنګه ختمه کړم، له خپل وروستي دښمن نه څنګه غچ واخلم، زه څه کولی شم... زه باید ځان له دې ماتې وژغورم، زه باید خپل وروستی دښمن ختم کړم، هو هغه باید ختم کړم، که نه هغه به ما ختم کړي. ))
له دې خبرې سره جمیل یو دم له چپرکټه راټوپ کړ، ټوپک یې راواخیست، خپلې اوږې ته یې کړ او په ډېر غضب له کوټې ووت.
په لاره کې بیا له ځانه سره لګیا شو: (( دا دښمن باید همدا نن، همدا شېبه ختم کړم. دې دښمن تر نورو ډېر په عذاب کړی یم. ))
په همدې خبرو خبرو هغه د سیند غاړې ته ورسېد. له لرې یو سړی رابښکاره شو. نېغ د هغه پر خوا ور وخوځېد. هغه ته، چې ورنږدې شو، ټوپک یې له اوږې رابښکته او ګېټ یې راکش کړ. په لاره روان سړی وترهېد او منډه یې کړه. جمیل په خندا شو او د وروستي دښمن په بیا بیا ویلو سره یې ټوپک دوه درې وارې پورته پورته وغورځاوه، بیا یې

ketabton.com - The Digital Library



خپلو سترګو ته نږدې ونیو او په غضب شو: (( خپل وروستی دښمن ختموم، همدا شېبه یې ختموم. ))
جمیل ټوپک له شپېلۍ نه په ښي لاس کې ونیو او په ټول قوت یې د سیند منځ ته خطا کړ: (( خدای پامان دښمنه، خدای پامان. ))
**۱۳۷۴**

ketabton.com - The Digital Library



# سودا

هغه د غرفې مخې ته ودرېد ، د خپلې خوښې مجله یې د نورو مجلو لـه منځه راپورته کړه. د مجلې په وروستیو پاڼو کې یې خپله پاڼه واړولـه. دم شېبه کې خولې پرې راماتې شوې، سوړ اسوېلی یې وکـېښ، مجلـه یـې پـه زوره د نـورو مجلـو پـر سر ګـوزار کـړه، ورو یـې وویـل: ((دروغ ده!))

هغـه همدا اسې پریشـانه زمـا لـه غرفـې نـه لـرې شـو. پریشـانۍ پسـې واخیستم، وې مې هسې نه چې بیا رانه شي.

د ده سودا مې نیکمرغه بلله. د هرې اوونۍ لومړۍ سودا ده کولـه. د شنبې په سهار، چې به مې ځنګه غرفه پرانیستله، دی به راپیدا شو او د پرتو مجلو په منځ کې بـه یې خپلـه مجلـه پیـدا کـړه، د خپلې خوښې پاڼه به یې راواړوله، ژر ژر به یې ولوستله، لکه چې لیکل شوې کرښې خونـد ورکـوي، موسـک بـه شـو. د کرتـۍ لـه جیبـه بـه یـې پیسـې را وایستلې او مجله به یې د بایسکل په کنجوغه کې کېښوده .

ketabton.com - The Digital Library



ما ته په تېرو پنځو شپږو کلونو کې دا معلومه شوې وه، چې هغه کومه پاڼه او کومې کرښې لولي. مجله مې راواخيسته، د اوونۍ د فال پاڼه مې راواړوله، ومې لوسته: ((د مرغومي مياشت: له چا سره، چې مينه لرې، په دې وروستيو کې ستا په نسبت بې علاقې شوې ده.))

۱۳۸۹/۵/۲

ketabton.com - The Digital Library



# ویبلاګ

له یوې اوونۍ ورپسې وم، هره ورځ مې ترې پوښتل، چې زما نوی شعر دې لوستی که نه. خو چې وبه یې ویل نه ! چورت به مې ډېر خراب شو، خو وروسته به مې خپل زړه په دې دلاسا کاوه، چې ډېره بوخته ده، له سهاره تر مازیګره د دفتر له کاره نه اوزګارېږي، کله خپله یو څه لیکي او کله د نورو لیکنې سموي.

دفتر مو خورا لوی دی، مېزونه په کې داسې اېښودل شوي، چې زموږ یو بل ته شا وي. کله کله په غلا غلا ورګورم، هغه په کار بوخته وي، د هغې دغه بوختیا ما ته یو تسل شي. ډېر ځله ځیر شوی یم، چې زما له کتو سره هغه هم غلچکۍ راګوري او ګواکې راته وایي، چې دربانديې پوهېږم.

نن همدا چې ورغلم، ورته مې وویل: ((نن به خامخا زما ویبلاګ ګورې، نوي شعرونه او کیسې مې لیکلې دي.))

هغه موسکه شوه: ((نن يې خامخا لولم. کارونه مې کم دي.))

ketabton.com - The Digital Library



کمپيوټر ته مې کېناستم. خپل ويبلاګ مې پرانست. پرته له دې، چې څه په کې ولولم، هسې ورته کتل مې. يو نيم نظر به مې شاته په دې مينه کتل، چې ګوندې هغې به زما ويبلاګ پرانستی وي، خو هغه به لا هم په څه ليکلو لګيا وه. دې کې د دفتر د داخلي تلفون د زنګ غږ اوچت شو. تلفون د هغې د مېز پر سر اېښودل شوی، غوږۍ يې جګه کړه: (( هو ، شته، صحيح ده، زه ورته وايم. ))
غوږۍ يې، چې کېښوده، راته ويې ويل: (( د بورډ ميټنګ نيم ساعت وروسته دی. ))
د ميټينګ لپاره د تياري په غم کې شوم. نيم ساعت پس، چې پاڅېدم هغې ته مې پام شو، چې ويبلاګ يې پرانيستی دی.
مازيګر، چې له ميټنګ نه راغلم، ټول کارکوونکي کورونو ته تللي وو. کمپيوټر ته کېناستم، ويبلاګ مې پرانست. د خپلو ټولو نويو ليکل شويو مطلبونو تر لاندې مې د نظرونو د ليکلو بکسونه پرانستل، پر زړه مې بې حسي راخوره شوه، سره له دې، چې لوی ايرکنډيشن چالان و، خولې راباندې راغلې. ساه مې بنده بنده شوه، راولاړ شوم، د باندې ووتم، څو دقيقې د دفتر په حويلۍ کې ښکته پورته وګرځېدم. عجيبې خبرې مې زړه ته راتلې: (( اوس مې پروا نه لري، څوکۍ يې لوړه شوه، پر ما يې نظر نه سوزي، پخوا به هره ورځ پخپله زما ويبلاګ ته راتله او پر زړو مطلبونو به يې بيا بيا يو څه ليکل. ))

ketabton.com - The Digital Library



خو ژر پر خپلې دې خبرې پښیمانه شوم: ((ترڅو چې خو یې اوس کارونه زیات شوي، پخوا خو یې د دوه درې پاڼو د لیکلو مسوولیت درلود، اوس خو باید ټوله مجله وګوري او ایډیټ یې کړي، اخر دا خو زیات کار دی، ستړې کېږي.))

دفتر ته ننوتم، کمپیوټر مې بند کړ. بیګ مې راواخیست. له دفتر نه ووتم، موټر ته د ختلو په وخت کې، څه راپه یاد شول، بېرته راوګرځېدم. په بېړه مې کمپیوټر روښانه کړ. د خپل ویبلاګ مدیریت پاڼه مې خلاصه کړه، یو مخ د خصوصي نظرونو برخې ته ورغلم. لومړی نظر د هغې و: ((کیسې دې خورې شوې، خو د دفتر خبرې دې ډېرې کړې دي، هسې نه، چې کومه بې ګناه همکاره دې بله ورځ په کیسو کې غورځولې وي. خدای دې پرده وکړه!))

۱۳۸۹/۵/۱۰

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*